# د لاويانو کتاب

## سريزه

د لاويانو کتاب د تورات دريم کتاب دی. د دې کتاب نوم د لاوي د قبيلې څخه اخيستل شوی دی چې هغوی د کاهنتوب وظيفه په غاړه لرله.

په دې کتاب کې د عبادت او قربانۍ په باره کې ډېر قوانين موجود دي چې خدای پاک اسراييليانو ته ورکړي دي. همدارنګه په دې کتاب کې د کفارې لويه ورځ او نور مهم مذهبي اخترونه هم بيان شوي دي. دا کتاب د مذهبي پاکوالي په هکله هم لارښوونې کوي (دا مونږ ته روښانه کوي چې کوم شيان پاک دي او کوم شيان ناپاک دي.) داسې قوانين هم بيانوي چې په هغو کې ويل کيږي چې خلک بايد په کومې طريقې سره د خدای پاک عبادت وکړي او څرنګه بايد په غريبانو باندې مهرباني وکړي.

د لاويانو د کتاب موضوع پاکوالی دی. کله چې اسراييل په مصر کې د فسحې د قربانۍ او د سينا په غره باندې د لوظ په کولو سره د خدای پاک د خاص ميراث په توګه بېل کړای شول، د لږې مودې په تېرېدلو سره هغوی په بت پرستۍ يعنې طلايي خوسي ته په عبادت کولو هغه لوظ مات کړ. يوازې د حضرت موسیٰ په شفاعت سره خدای پاک د هغوی د نابودولو څخه تېر شو او د هغوی سره يې خپل لوظ نوی کړ.

د لاويانو کتاب او حتیٰ د مقدس کتاب ټوله زړه لوظنامه د حيواناتو قرباني کول د خدای پاک په حضور کې د عبادت کولو د يوې اساسي برخې په توګه بيانوي. ګناهکارانو به د خدای پاک حضور

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته د رسېدلو په خاطر قرباني کوله. دا قرباني به د هغوی د ګناهونو د پټولو یوه وسیله ګرځېدله. قرباني به د بدل په توګه وه چې د یو ګناهکار په ځای به ترسره کېدله.

البته دې قربانیو نه شو کولی چې د ګناه ملامتي په رښتیني ډول پاکه کړي، خو دا یوه وسیله وه چې اسراییلو ته به یې دا ښودل چې هغوی قرباني کولو ته ضرورت لري او د عیسیٰ مسیح د قرباني یوه نمونه وه چې په آینده کې به د ټولو دپاره قرباني کېده.

## د موضوعګانو فهرست:


د نذرانو او قربانیو په باره کې قوانین ۱: ۱ – ۷: ۳۸
د حضرت هارون او د هغه د زامنو ټاکنه د کاهنانو په توګه ۸: ۱ – ۱۰: ۲۰
د مذهبي پاکوالي او ناپاکۍ په باره کې قوانین ۱۱: ۱ – ۱۵: ۳۳
د کفارې ورځ ۱۶: ۱ – ۳۴
په ژوندون او عبادت کې د پاکوالي په باره کې قوانین ۱۷: ۱ – ۲۷: ۳۴


## سوزېدونکې نذرانه

١ ١ ښښتن حضرت موسیٰ له مقدسې خېمې څخه راوغوښت او ورته ویې فرمایل: ٢
<اسراییلیانو ته ووایه: کله چې ستاسو څخه یو څوک ښښتن ته یوه نذرانه راوړي، هغه دې د خپلې
پادې یا رمې څخه یو حیوان د خپلې نذرانې په توګه راوړي. ٣ که چېرې هغه د خپلې پادې
څخه یو حیوان د سوزېدونکې نذرانې په توګه وړاندې کوي، هغه باید یو داسې غویی راولي چې څه
عیب په کې نه وي. هغه باید د مقدسې خېمې د دروازې په خوله کې وړاندې کړي، ترڅو ښښتن
هغه قبول کړي. ٤ هغه به د حیوان په سر باندې خپل لاس کېږدي او دا به د هغه د ګناهونو د
لېرې کولو دپاره د کفارې په توګه قبول شي. ٥ هغه باید د ښښتن په حضور کې غویی حلال

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړي او د هارون زامن به چې د کاهنانو په توګه خدمت کوي، د هغه وينه راوړي او د قربانۍ د ځای
په څلورو خواو باندې چې د مقدسې خېمې د دروازې په مخکې ده وشيندي. ۶ بيا به د هغه
حيوان پوستکی وباسي او ټوټې ټوټې به يې کړي، ۷ او کاهنان دې د قربانۍ په ځای باندې لرګي
په ترتيب سره کېږدي او اور دې ولګوي. ۸ هغوی دې د حيوان ټوټې د سر او وازګې سره په اور
باندې کېږدي. ۹ هغه نفر بايد کولمې او پښې ومينځي او کاهن دې هغه ټول په قربانګاه باندې
وسوزوي. دا سوزېدونکې نذرانه ده، يو داسې بوی دی چې په څښتن باندې ښه لګيږي.

۱۰ که چېرې هغه نفر له خپلې رمې څخه يو حيوان وړاندې کوي، هغه بايد نر وي او څه عيب په
کې نه وي. ۱۱ هغه بايد د څښتن په حضور کې د قربانۍ د ځای شمال خواته حلال کړي او
کاهنان به د هغه وينه د قربانۍ د ځای په څلورو خواو باندې وشيندي. ۱۲ وروسته له دې چې
حيوان ټوټې ټوټې شي، کاهن به دا ټولې برخې د سر او وازګې سره په اور باندې کېږدي. ۱۳ هغه
بايد کولمې او پښې ومينځي او کاهن دې دا قرباني وړاندې کړي او هغه ټول دې په قربانګاه باندې
وسوزوي. دا سوزېدونکې نذرانه ده، يو داسې بوی چې په څښتن باندې ښه لګيږي.

۱۴ که چېرې هغه يو مارغه د سوزېدونکې نذرانې په توګه وړاندې کوي، هغه بايد يوه کوتره يا
قمري وي. ۱۵ کاهن به هغه په قربانګاه باندې وړاندې کړي، د هغې اورمېږ به تاو کړي او سر به
يې د قربانۍ په ځای باندې وسوزوي. د هغې وينه به د قربانۍ د ځای په اړخ کې وڅڅيږي. ۱۶ د
هغې ججوره به د هرڅه سره لېرې کړي او د قربانۍ د ځای لمرخاته خواته به يې وغورځوي چېرته
چې ايرې اچول کيږي. ۱۷ د هغې وزرونه به ونيسي او بدن به يې په منځ کې داسې څيرې کړي
چې وزرونه يې ورڅخه بېل نه شي او بيا به هغه ټول په قربانګاه باندې وسوزوي. دا سوزېدونکې
نذرانه ده، يو داسې بوی چې په څښتن باندې ښه لګيږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د غلې دانې نذرانه

**۲** ۱ کله چې ستاسو څخه څوک څښتن ته د غلې دانې نذرانه وړاندې کوي، هغه نذرانه دې د
ښو اوړو څخه وي. په هغې باندې دې د زیتونو تېل توی کړي، خوشبویي دې ورباندې واچوي
۲ او د هارون زامنو یعنې کاهنانو ته دې ورووړي. کاهن به د ټولې خوشبویۍ سره د ښو اوړو
څخه چې تېل ورسره ګډ دي یو موټی راواخلي او هغه به د یوې نمونې په توګه چې ټوله څښتن ته
وړاندې کیږي، په قربانګاه باندې وسوزوي. دا یوه داسې نذرانه ده چې بوی یې په څښتن باندې ښه
لګیږي. ۳ د غلې دانې پاتې نذرانه د کاهنانو ده، دا د هغو نذرانو یوه ډېره مقدسه برخه ده چې
څښتن ته په اور باندې تیاریږي.

۴ که چېرې نذرانه داسې ډوډۍ وي چې په تنور کې پخه شوې وي، باید فطیره وي. هغه باید د
داسې ښو اوړو څخه جوړه شوې وي چې د زیتونو تېل ورسره ګډ وي یا نرۍ ډوډۍ چې د زیتونو
تېل ورباندې سولول شوي وي. ۵ که چېرې نذرانه داسې ډوډۍ وي چې په تبۍ باندې پخه
شوې وي، هغه دې له داسې ښو اوړو څخه جوړه شي چې د زیتونو تېل ورسره ګډ وي، مګر فطیره
دې وي. ۶ هغه ټوټې ټوټې کړئ او نور تېل ورباندې واچوئ، دا د غلې دانې یوه نذرانه ده. ۷
که چېرې نذرانه داسې ډوډۍ وي چې په ارکاره باندې پخه شوې وي، هغه دې د ښو اوړو او د
زیتونو د تېلو څخه جوړه شي. ۸ له دې شیانو څخه چې کومه د غلې دانې نذرانه جوړه شوې
وي، هغه څښتن ته راوړئ او کاهن ته یې وړاندې کړئ، هغه به یې د قربانۍ ځای ته یوسي. ۹
کاهن به له هغې څخه یوه برخه واخلي او هغه به د یوې نمونې په توګه چې ټوله څښتن ته وړاندې
کیږي، په قربانګاه باندې وسوزوي. دا یوه داسې نذرانه ده چې بوی یې په څښتن باندې ښه لګیږي.
۱۰ د غلې دانې پاتې نذرانه د کاهنانو ده. دا ډېره مقدسه ده. دا د هغو نذرانو یوه ډېره مقدسه برخه
ده چې څښتن ته په اور باندې تیاریږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ هغه د غلې دانې نذرانې چې څښتن ته يې وړاندې کوئ، په هيڅ يوه کې دې خميره نه وي. تاسو بايد په هغو نذرانو کې چې څښتن ته په اور باندې تيارېږي هيڅ خميره يا شات استعمال نه کړئ. ۱۲ بايد د اولينو غلو دانو څخه چې هر کال يې رېبئ څښتن ته يوه نذرانه راوړئ، خو هغه بايد په قربانګاه باندې ونه سوزول شي. ۱۳ د غلې دانې په هرې نذرانې باندې مالګه واچوئ، ځکه چې مالګه د خدای او ستاسو په منځ کې د لوظ استازيتوب کوي. (تاسو بايد په خپلو ټولو نذرانو باندې مالګه واچوئ.)

۱۴ کله چې تاسو څښتن ته د اولنيو رېبل شويو غلو دانو نذرانه راوړئ، نو نيني شوې دانې يا ميده اوړه ورته وړاندې کړئ. ۱۵ په هغې باندې د زيتونو تېل ورزيات کړئ او خوشبويي ورباندې واچوئ. دا د غلې دانې يوه نذرانه ده. ۱۶ کاهن به د ميده اوړو او تېلو يوه برخه د نمونې په توګه د ټولې خوشبويۍ سره يوځای د يوې نذرانې په توګه وسوزوي.

## د سلامتۍ نذرانه

۳ ۱ کله چې څوک د خپلې پادې يو حيوان د سلامتۍ د نذرانې په توګه د څښتن په حضور کې وړاندې کوي، هغه دې يو داسې غويی يا غوا وي چې کوم عيب په کې نه وي. ۲ هغه به خپل لاس د حيوان په سر باندې کېږدي او هغه به د مقدسې خېمې د دروازې په خوله کې حلال کړي. بيا به د هارون زامن چې کاهنان دي، هغه وينه د قربانۍ د ځای په څلورو خواو باندې وشيندي. ۳ هغه نفر دې د حيوان دغه برخې څښتن ته د داسې قربانۍ په توګه چې په اور باندې تيارېږي وړاندې کړي: ټوله وازګه چې په کولمو باندې پرته وي، ۴ پښتورګي د وازګې سره چې دپاسه ورباندې پرته وي او د اينې ډېره ښه برخه. ۵ بيا دې کاهنان هغه ټوله د سوزېدونکې نذرانې سره په قربانګاه باندې وسوزوي. د داسې نذرانې بوی په څښتن باندې ښه لګېږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ که چېرې هغه نفر د خپلې رمې څخه يو حيوان څښتن ته د سلامتۍ د نذرانې په توګه وړاندې
کوي، هغه دې يو داسې ښځينه يا نر حيوان وي چې کوم عيب په کې نه وي. ۷ که چېرې هغه
پسه وړاندې کوي، ۸ نو خپل لاس دې د حيوان په سر باندې کېږدي او هغه دې د خېمې په مخ
کې حلال کړي. کاهنان به د هغه وينه د قربانۍ د ځای په څلورو خواو باندې وشيندي. ۹ هغه
دې د سلامتۍ د نذرانې څخه يوه داسې قرباني راوړي چې په اور باندې څښتن ته تيارېږي: لکه د
هغې وازګه، ټول لم چې له شمزۍ څخه پرې کړل شوی وي او ټوله وازګه چې په کولمو باندې پرته
وي، ۱۰ پښتورګي د هغې وازګې سره چې دپاسه ورباندې پرته وي او د اينې ډېره ښه برخه. ۱۱
کاهن دې هغه د خواړو د نذرانې په توګه څښتن ته په قربانګاه باندې وسوزوي.

۱۲ که چېرې د هغه نفر نذرانه يوه وزه يا وز وي، ۱۳ نو خپل لاس دې د حيوان په سر باندې
کېږدي او د مقدسې خېمې په مخکې دې حلال کړي. بيا به کاهنان د هغه وينه د قربانۍ د ځای په
څلورو خواو باندې وشيندي. ۱۴ هغه دې د خپلې نذرانې يوه برخه چې په اور باندې څښتن ته
تيارېږي وړاندې کړي: ټوله وازګه چې په کولمو باندې پرته وي، ۱۵ پښتورګي د هغې وازګې سره
چې دپاسه ورباندې پرته وي او د اينې ډېره ښه برخه. ۱۶ کاهن به دا ټول د خواړو د نذرانې په
توګه چې څښتن ورباندې خوشالېږي په قربانګاه باندې وسوزوي. ټوله وازګه د څښتن ده.

۱۷ هيڅ اسراييلی نه شي کولی چې کومه وازګه يا وينه وخوري. دا يو دايمي حکم دی چې ټول
اسراييليان چې هرچېرته اوسېږي بايد د هغه څخه پيروي وکړي.>

## په سهوې سره د شويو ګناهونو دپاره نذرانه

۴ ۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۲ <اسراييليانو ته ووايه: کله چې څوک ګناه کوي
او په سهوې سره د څښتن حکمونه ماتوي، هغه بايد دا لاندېني مقررات مراعت کړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ که چېرې مشر کاهن ګناه وکړي او په دې ډول قوم ګناهکار کړي، هغه به يو داسې ځوان
غويی وړاندې کوي چې کوم عيب په کې نه وي او د خپلې ګناه دپاره به يې څښتن ته قرباني کوي.
۴ هغه دې غويی د مقدسې خېمې د دروازې خولې ته راولي، خپل لاس دې د هغه په سر باندې
کېږدي او د څښتن په حضور کې دې هلته حلال کړي. ۵ بيا به مشر کاهن د غويي له وينې څخه
لږه وينه واخلي او دننه خېمې ته به يې يوسي. ۶ هغه دې خپله ګوته په وينه کې غوټه کړي او
لږه وينه دې واخلي او اووه ځلې دې د څښتن په حضور کې د مقدس ځای د پردې مخې ته
وشيندي. ۷ بيا به کاهن لږه وينه په خېمه کې د خوشبويی د قربانګاه په برجونو باندې وسولوي.
هغه به پاتې وينه د خېمې د دروازې په خوله کې د سوزېدونکې نذرانې د قربانګاه په بېخ کې توی
کړي. ۸ هغه به له دې غويي څخه ټوله وازګه واخلي، يعنې هغه وازګه چې په کولمو باندې پرته
وي، ۹ پښتورګي د وازګې سره چې دپاسه ورباندې پرته وي او د اينې ډېره ښه برخه، ۱۰ لکه
څنګه چې وازګه له غويي څخه چې د سلامتۍ د نذرانې په توګه قرباني کېږي لېرې کېږي. بيا به
کاهن هغه د سوزېدونکې نذرانې په قربانګاه باندې وسوزوي. ۱۱ مګر هغه به د هغه پوستکی، ټوله
غوښه، سر، پښې او د هغه د نس دننۍ برخې د خوشايو سره واخلي، ۱۲ هغه به ټول د کمپ
څخه دباندې پاک ځای ته چېرته چې ايرې غورزول کېږي يوسي او هلته به يې د لرګيو په اور
باندې وسوزوي.

۱۳ که چېرې د اسراييلو ټول قوم په سهوې سره ګناه وکړي او د څښتن د حکمونو څخه کوم
حکم مات کړي نو هغوی به ګناهکار وګڼل شي. ۱۴ کله چې هغوی په خپله ګناه پوه شي، بايد د
ګناه د نذرانې په توګه يو ځوان غويی راولي او د مقدسې خېمې په مخ کې دې هغه وړاندې کړي.
۱۵ د قوم مشران دې خپل لاسونه د غويي په سر باندې کېږدي او غويی دې د څښتن په حضور
کې حلال شي. ۱۶ بيا دې مشر کاهن د غويي له وينې څخه لږه وينه واخلي او دننه خېمې ته دې
يوسي. ۱۷ هغه دې خپله ګوته په وينه کې غوټه کړي او هغه دې د څښتن په حضور کې اووه
ځلې د پردې مخې ته وشيندي. ۱۸ بيا دې هغه لږه وينه په مقدسه خېمه کې د څښتن په حضور

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې د خوشبويۍ د قربانګاه په برجونو باندې وسولوي. هغه به پاتې وينه د مقدسې خېمې د دروازې
په خوله کې د سوزېدونکې نذرانې د قربانګاه په بېخ کې توی کړي. ۱۹ بيا به هغه د غويي ټوله
وازګه لېرې کړي او په قربانګاه باندې به يې وسوزوي. ۲۰ هغه به د دې غويي سره هماغسې کار
وکړي لکه څنګه چې د ګناه د نذرانې د غويي سره يې کړی ؤ. په دې ډول به کاهن د قوم دپاره
کفاره ادا کړي او هغوی به وبخښل شي. ۲۱ بيا به هغه غويی له کمپ څخه دباندې يوسي او وبه
يې سوزوي، لکه څنګه چې هغه غويی يې سوزولی ؤ چې د هغه د ګناه دپاره وړاندې شوی ؤ. دا
هغه نذرانه ده چې د ټول قوم د ګناه د لېرې کولو دپاره ده.

۲۲ کله چې يو مشر په سهوې سره ګناه وکړي او د څښتن د حکمونو څخه کوم حکم مات کړي
نو هغه به ګناهکار وګڼل شي. ۲۳ کله چې هغه د خپلې ګناه څخه خبر کړای شي، هغه بايد د
خپلې نذرانې په توګه يو داسې وز راولي چې کوم عيب په کې نه وي. ۲۴ هغه دې خپل لاس د
وز په سر باندې کېږدي او په هغه ځای کې دې حلال کړي چېرته چې د څښتن په حضور کې د
سوزېدونکې نذرانې دپاره حيوانات حلالېږي. دا د ګناه نذرانه ده. ۲۵ بيا دې کاهن د هغه وز د
وينې څخه په خپله ګوته باندې لږه وينه راواخلي او د قربانګاه په برجونو باندې دې وسولوي. پاتې
وينه به د قربانۍ د ځای په بېخ کې توی کړي. ۲۶ بيا دې هغه دا ټوله وازګه په قربانګاه باندې
وسوزوي لکه څنګه چې هغه د سلامتۍ د نذرانې وازګه وسوزوله. په دې ډول به کاهن د هغه مشر د
ګناه دپاره کفاره ادا کړي او هغه به وبخښل شي.

۲۷ که چېرې کوم عام نفر په سهوې سره ګناه وکړي او د څښتن د حکمونو څخه کوم حکم مات
کړي نو هغه به ګناهکار وګڼل شي. ۲۸ کله چې هغه د خپلې ګناه څخه خبر کړای شي، بايد د
خپلې نذرانې په توګه يوه داسې وزه راولي چې کوم عيب په کې نه وي. ۲۹ هغه دې خپل لاس د
هغې په سر باندې کېږدي او د سوزېدونکې نذرانې په ځای کې دې حلاله کړي. ۳۰ بيا دې کاهن
په خپله ګوته باندې د هغه حيوان لږه وينه راواخلي او د قربانګاه په برجونو باندې دې وسولوي او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاتې وینه دې د قربانګاه په بېخ کې توی کړي. ۳۱ هغه به د وزې ټوله وازګه لیرې کړي، لکه ځنګه چې د سلامتۍ له نذرانې ځخه لیرې کیږي او کاهن به هغه په قربانګاه باندې وسوزوي چې بوی یې په ښبتن باندې ښه لګیږي. په دې ډول به کاهن د هغه نفر د ګناه دپاره کفاره ادا کړي او هغه به وبخښل شي.

۳۲ که چیرې هغه د خپلې ګناه د نذرانې په توګه یوه مېږه راولي، هغه باید داسې مېږه وي چې کوم عیب په کې نه وي. ۳۳ هغه دې خپل لاس د هغې په سر باندې کیږدي او د سوزېدونکې نذرانې په ځای کې دې حلاله کړي. ۳۴ بیا دې کاهن په خپله ګوته باندې د هغه حیوان لږه وینه راواخلي او د قربانګاه په برجونو باندې دې وسولوي او پاتې وینه دې د قربانګاه په بېخ کې توی کړي. ۳۵ بیا به د هغې ځخه ټوله وازګه لیرې کړي، لکه ځنګه چې د سلامتۍ د نذرانې له پسه یا مېږې ځخه لیرې کیږي او کاهن به هغه په قربانګاه باندې د هغو نذرانو سره یوځای وسوزوي چې ښبتن ته تیاریږي. په دې ډول به کاهن د هغه نفر د ګناه دپاره کفاره ادا کړي او هغه به وبخښل شي.

## هغه حالات چې په هغو کې د ګناه نذرانو ته اړتیا وي

**۵** ۱ په دې لاندینیو حالتونو کې د ګناه نذرانې ضروري دي:

که چیرې ځوک د شاهدۍ ورکولو دپاره محکمې ته وغوښتل شي او د هغو شیانو په باره کې چې هغه لیدلي یا اورېدلي دي معلومات ورنه کړي، نو هغه ته دې د خپلو بدو سزا ورکړل شي.

۲ که چیرې د چا لاس په سهوې سره د یو شي سره چې په مذهبي لحاظ ناپاک وي لکه مړ شوي حیوان سره ولګیږي، نو کله چې پوه شي چې هغه څه کړي دي، نو هغه نفر ناپاکه او ګناهکار دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ که چېرې څوک په سهوې سره د انساني ناپاکۍ سره که هغه هرڅه وي ولګيږي، نو څنګه چې
پوه شي چې څه يې کړي دي، هغه به ګناهکار وګڼل شي.

۴ که چېرې د يو چا فکر نه وي او قسم وخوري، مهمه نه ده چې د څه شي په هکله وي، څنګه
چې ورڅخه خبر شي نو هغه به ګناهکار وګڼل شي.

۵ کله چې څوک له دغو ګناهونو څخه يوه ګناه وکړي، هغه بايد د هغې ګناه اقرار وکړي ۶ او
د خپلې ګناه د جريمې په توګه بايد څښتن ته د ګناه د نذرانې په توګه يوه مېږه يا وزه راولي او
کاهن به د هغه د ګناه دپاره کفاره ادا کړي.

۷ که چېرې هغه نفر مېږه يا وزه نه شي اخيستلی، نو څښتن ته دې د خپلې ګناه د جريمې په
توګه دوه کوترې يا دوه قمري ګانې راوړي يعنې يوه د ګناه د نذرانې او بله د سوزېدونکې نذرانې
دپاره. ۸ هغه دې کاهن ته راوړي او کاهن به اول يوه د ګناه د نذرانې دپاره وړاندې کړي. هغه
دې په داسې طريقې سره د هغې اورمېږ تاو کړي چې سر ورڅخه جلا نه شي. ۹ هغه دې د ګناه
د نذرانې څخه لږه وينه د قربانګاه په اړخ کې وشيندي، پاتې وينه بايد د قربانګاه په بېخ کې وڅڅول
شي. دا د ګناه نذرانه ده. ۱۰ بيا به د مقرراتو په مطابق هغه دوهمه مرغۍ د سوزېدونکې نذرانې په
توګه وړاندې کړي. په دې ډول به کاهن د هغه نفر د ګناه دپاره کفاره ادا کړي او هغه به وبخښل شي.

۱۱ که چېرې هغه نفر دوه کوترې يا دوه قمري ګانې هم نه شي اخيستلی، نو د خپلې ګناه د نذرانې
دپاره دې يو کيلوګرام ښه اوړه راوړي. په هغو باندې دې د زيتونو تېل يا خوشبويي نه اچوي، ځکه
چې دا د ګناه نذرانه ده. ۱۲ هغه بايد کاهن ته راوړي، کاهن به له هغو اوړو څخه چې ټول څښتن
ته وړاندې کيږي يو موټی د نمونې په توګه راواخلي او د نورو نذرانو سره به يې په قربانګاه باندې
وسوزوي. دا د ګناه د لېږې کولو نذرانه ده. ۱۳ په دې ډول به کاهن د هغه د ګناهونو دپاره کفاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ادا کړي او هغه به وبخښل شي. پاتې نذرانه به د غلې دانې د نذرانې په شان د کاهن وي.>

## د تاوان نذرانه

۱۴ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۱۵ >که چېرې څوک په سهوې سره هغه شيان چې
څښتن ته وقف شوي دي يا د هغو بيه کاهن ته ورنه کړي، نو هغه دې د تاوان د نذرانې په توګه
څښتن ته يو داسې پسه راولي چې کوم عيب په کې نه وي. د هغه بيه دې د هغو پيسو په مطابق وي
چې په مقدس ځای کې ورڅخه کار اخيستل کيږي. ۱۶ برسېره پردې، نوموړی بايد هغه پيسې
ورکړي چې د هغو په ورکولو نه دی بريالی شوی او شل فيصده دې زياتې هم ورکړي. هغه به دا
ټولې پيسې کاهن ته ورکوي. کاهن به د هغه دپاره په پسه باندې د تاوان د نذرانې په توګه کفاره ادا
کړي او هغه به وبخښل شي.

۱۷ که چېرې څوک په سهوې سره ګناه وکړي او د څښتن د حکمونو څخه کوم حکم مات کړي،
نو هغه ګناهکار دی او د هغې جرمانه به ورکوي. ۱۸ هغه دې د تاوان د نذرانې په توګه کاهن ته
يو داسې پسه راولي چې کوم عيب په کې نه وي او مناسبه بيه ولري. په دې ډول به کاهن د هغه د
ګناه دپاره چې په سهوې سره يې کړې ده کفاره ادا کړي او هغه به وبخښل شي. ۱۹ دا د هغې ګناه
دپاره د تاوان يوه نذرانه ده چې د څښتن په مقابل کې يې کړې ده.>

٦ ۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۲ >فرض کړئ د کوم نفر سره د بل چا کوم شی
د امانت په توګه ايښی وي او هغه ورته دروغ ووايي چې هغه شی ورک شوی دی يا غلا شوی دی
او په دې باندې د څښتن په مقابل کې ګناه وکړي. يا فرض کړئ کوم شی غلا کړي يا يې د چا څخه
په زور واخلي. ۳ يا کوم ورک شوی شی پيدا کړي او دروغ ووايي او يا قسم وخوري چې هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې نه دی موندلی، ۴-۵ نو په دې ډول که چېرې يو نفر ګناه کوي، نو کوم شی چې هغه په غلا ترلاسه کړی وي هغه دې بېرته ورکړي. په هغه ورځ چې دا ثابته شي چې هغه ګناهکار دی، نو د هغه خاوند ته دې پوره تاوان ورکړي او شل فيصده دې زيات هم ورکړي. ۶ نو هغه دې يو داسې پسه چې کوم عيب په کې نه وي او د تاوان د نذرانې په توګه څښتن ته وړاندې کيږي کاهن ته راولي. هغه دې مناسبه بيه ولري. ۷ په دې ډول به کاهن د څښتن په حضور کې د هغه دپاره کفاره ادا کړي او هغه به وبخښل شي.>

## سوزېدونکې نذرانه

۸ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۹ <هارون او د هغه زامنو ته دا حکم ورکړه چې د سوزېدونکې نذرانې دپاره دغه مقررات دي: سوزېدونکې نذرانه دې له شپې څخه تر سهاره پورې په قربانګاه باندې پاتې شي او په قربانګاه باندې بايد اور روښانه وساتل شي. ۱۰ بيا به کاهن خپل د کتان نيکرونه د کتان د چپنې سره واغوندي او د سوزېدونکې نذرانې ايرې به چې د قربانۍ په ځای باندې پاتې شوې دي لېرې کړي او د قربانۍ د ځای په څنګ کې به يې واچوي. ۱۱ بيا دې هغه دا کالي وباسي او نور دې واغوندي او ايرې دې له کمپ څخه دباندې يو پاک ځای ته يوسي. ۱۲ په قربانګاه باندې بايد اور روښانه وساتل شي او بايد مړ نه شي. کاهن دې هر سهار د اور لرګي ورزياتوي او په اور باندې دې سوزېدونکې نذرانه په ترتيب سره ږدي او په هغه باندې دې د سلامتۍ د نذرانې وازګه وسوزوي. ۱۳ په قربانګاه باندې بايد اور په دوامداره توګه روښانه وساتل شي او بايد مړ نه شي.

## د غلې دانې نذرانه

۱۴ د غلې دانې د نذرانې دپاره دغه مقررات دي: د هارون زامن چې کاهنان دي دا نذرانه دې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قرباني د ځای مخې ته څښتن ته وړاندې کړي. ۱۵ کاهن دې له ښو اوړو او تېلو څخه چې
خوشبويي ورباندې شيندل شوې ده او ټوله څښتن ته وړاندې کيږي يو موټی د نمونې په توګه
واخلي او په قربانګاه باندې دې وسوزوي. د دې نذرانې بوی په څښتن باندې ښه لګيږي. ۱۶-
۱۷ د هغې پاتې برخه به کاهنان وخوري. د هغې څخه دې فطيره ډوډۍ پخه شي او په يو مقدس
ځای يعنې د مقدسې خېمې په حويلۍ کې دې وخوړل شي. څښتن هغه کاهنانو ته د هغو نذرانو
څخه چې په اور باندې ورته تياريږي د هغوی د برخې په توګه ورکړې ده. دا د ګناه او تاوان د
نذرانو په شان ډېره مقدسه ده. ۱۸ د هارون هره اولاده چې نارينه وي هغه خوړلی شي. دا د هغو
دوامدارو نذرانو يوه برخه ده چې تل به څښتن ته په اور باندې تياريږي. که بل څوک هغو نذرانو ته
لاس وروړي، نو د هغو مقدس توب به ورته زيان ورسوي.>

۱۹ همدارنګه څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۲۰ >دا هغه نذرانه ده چې هارون او د هغه
زامن يې بايد په هغه ورځ چې هغوی په کې د کاهنانو په توګه ټاکل کيږي څښتن ته وړاندې کړي:
هغوی دې يو کيلوګرام ښه اوړه د نذرانې په توګه څښتن ته وړاندې کړي (د غلې دانې د ورځنۍ
نذرانې په اندازه). د هغې څخه دې نيم په سهار کې او نيم په ماښام کې وړاندې کړي. ۲۱ هغه دې
د تېلو سره ګډ شي او په تبۍ باندې دې پاخه شي او بيا دې ميده ميده شي او د غلې دانې د نذرانې
په توګه دې وړاندې شي. دا يو داسې بوی دی چې په څښتن باندې ښه لګيږي. ۲۲ د هارون د
اولادې څخه چې هرڅوک د مشر کاهن په توګه خدمت کوي، تل به دا نذرانه وړاندې کوي. هغه
دې څښتن ته د قربانۍ په توګه ټول وسوزول شي. ۲۳ د کاهن د غلې دانې هره نذرانه بايد ټوله
وسوزول شي، هغه بايد ونه خوړل شي.>

## د ګناه نذرانه

۲۴ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۲۵ >هارون او د هغه زامنو ته ووايه چې د ګناه د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نذرانې دپاره دغه مقررات دي: د ګناه د نذرانې دپاره دې حيوان په هغه ځای کې چې د
سوزېدونکې نذرانې دپاره حيوانات حلاليږي حلال شي. دا ډېره مقدسه نذرانه ده. ۲۶ کاهن چې
دا حيوان قرباني کوي، هغه دې په يو مقدس ځای يعنې د مقدسې خېمې په حويلۍ کې وخوري.
۲۷ که يو څوک يا يو شی د دې حيوان د غوښې سره ولګيږي، د هغې مقدس توب به ورته زيان
ورسوي. که چېرې د کاليو کوم ځای د دې حيوان په وينه ککړ شي، هغه بايد په يو مقدس ځای کې
ومينځل شي. ۲۸ د خاورو يو لوښی چې هغه غوښه په کې خوټول کيږي بايد مات شي او که
چېرې د برنجو د لوښي څخه کار اخيستل کيږي، بايد وموښل شي او په اوبو کنګال شي. ۲۹ د
کاهنانو د کورنيو هر نارينه کولی شي چې دا نذرانه وخوري، هغه ډېره مقدسه ده. ۳۰ مګر د ګناه
کومه نذرانه چې وينه يې مقدسې خېمې ته راوړل کيږي چې په مقدس ځای کې يې کفاره ادا شي،
هغه نذرانه بايد ونه خوړل شي، بايد وسوزول شي.

## د تاوان نذرانه

۷ ۱ د تاوان د نذرانې دپاره چې ډېره مقدسه ده دغه مقررات دي: ۲ د تاوان د نذرانې
دپاره دې حيوان په هغه ځای کې حلال شي چېرته چې د سوزېدونکې نذرانې دپاره حيوانات
حلاليږي او د هغه وينه دې د قربانۍ د ځای په څلورو خواو باندې وشيندل شي. ۳ د هغه ټوله
وازګه دې وړاندې شي: لکه لم او هغه وازګه چې په کولمو باندې پرته ده، ۴ پښتورګې د وازګې
سره چې دپاسه ورباندې پرته وي او د اينې ډېره ښه برخه. ۵ کاهن به هغه ټول په قربانګاه
باندې د داسې نذرانې په توګه وسوزوي چې څښتن ته تياريږي. دا د تاوان نذرانه ده. ۶ د کاهن
د کورنۍ هر نارينه کولی شي چې هغه وخوري، مګر هغه بايد په يو مقدس ځای کې وخوړل شي،
ځکه چې ډېره مقدسه ده.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ د ګناه د نذرانې او د تاوان د نذرانې دواړو دپاره يوشان قانون عملي کيږي: غوښه د کاهن ده
يعني د هغه چا دپاره ده چې د دې نذرانو په وسيله کفاره ادا کوي. ۸ د سوزېدونکې نذرانې د
حيوان پوستکی د هغه کاهن دی چې قرباني وړاندې کوي. ۹ د غلې دانې هره نذرانه چې په
تنور کې يا په ارکاره يا په تبۍ باندې پخيږي، هغه د کاهن يعنې د هغه چا ده چې هغه نذرانه خدای
ته وړاندې کوي. ۱۰ مګر د خامې غلې دانې ټولې نذرانې که د تېلو سره ګډې وي يا وچې وي،
هغه د هارون د زامنو يعنې د ټولو کاهنانو دي او بايد د هغوی ترمنځ په مساوي ډول ووېشل شي.

## د سلامتۍ نذرانه

۱۱ د سلامتۍ د هغو نذرانو دپاره چې يو نفر يې څښتن ته وړاندې کوي، دغه مقررات دي: ۱۲
که چېرې هغه نفر دا نذرانه خدای ته د شکرانې د نذرانې په توګه وړاندې کوي، هغه به د هغه حيوان
سره چې قرباني کيږي، د يوې فطيرې ډوډۍ نذرانه وړاندې کوي: هغه دې د ښو اوړو څخه درې
قسمه ډوډۍ پخې کړي چې دوه يې د زيتونو په تېلو کې پخې شوې وي او يوه دې نرۍ ډوډۍ وي
چې تېل ورباندې موښل شوي وي. ۱۳ هغه نفر دې خو خميره ډوډۍ هم وړاندې کړي. ۱۴ د
هر ډول ډوډۍ څخه دې يوه يوه ډوډۍ د يوې خاصې اعانې په توګه څښتن ته وړاندې کړي. دا د
هغه کاهن دپاره دي چې د حيوان وينه اخلي او په قربانګاه باندې يې شيندي. ۱۵ د دغې سلامتۍ
د نذرانې د حيوان غوښه بايد په هماغه ورځ چې هغه قرباني کيږي وخوړل شي. له هغې څخه دې
تر بل سهاره پورې هيڅ شی پاتې نه شي.

۱۶ نو که چېرې يو نفر خپله رضاکارانه نذرانه يا د نذر ورکولو په توګه د سلامتۍ نذرانه راوړي،
نو قرباني دې په هماغه ورځ چې وړاندې کيږي وخوړل شي. خو څه چې پاتې شي هغه دې په
راتلونکې ورځ وخوړل شي. ۱۷ کومه غوښه چې له قربانۍ څخه د دريمې ورځې پورې پاتې
کيږي، بايد وسوزول شي. ۱۸ که چېرې د سلامتۍ د نذرانې کومه غوښه په دريمه ورځ وخوړل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شي، خدای به د هغه نفر نذرانه قبوله نه کړي. دا به د هغه په نذرانه کې حساب نه شي او هغه به
ناپاکه وګڼل شي. که څوک له هغې څخه لږه وخوري، نو د خپلو بدو سزا به ووويني. ۱۹ که چېرې
دا غوښه په يو ناپاکه شي باندې ولګېږي هغه بايد ونه خوړل شي، بلکه بايد وسوزول شي.

که څوک پاک وي، هغه کولی شي چې دا غوښه وخوري ۲۰ مګر که چېرې څوک ناپاک وي او د
سلامتۍ د نذرانې هغه غوښه چې څښتن ته وړاندې کېږي وخوري، نو هغه نفر بايد د خدای له قوم
څخه وشړل شي. ۲۱ که چېرې يو نفر يو ناپاکه شي ته لاس ورووړي، که هغه انساني ناپاکي وي يا
يو ناپاکه حيوان وي او بيا د سلامتۍ د نذرانې هغه غوښه وخوري، نو هغه نفر بايد د خدای له قوم
څخه وشړل شي.>

## د وازګې او وينې خوړل حرام دي

۲۲ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۲۳ <د اسراييلو قوم ته ووايه چې د غوايانو، پسونو او
وزو وازګه مه خورئ. ۲۴ د يو حيوان وازګه چې په خپل مرګ مړ شوی وي يا يو وحشي حيوان
وژلی وي بايد په هيڅ صورت ونه خوړل شي، مګر هغه د کوم بل مقصد دپاره استعمالېدی شي.
۲۵ هرڅوک چې د يو داسې حيوان وازګه وخوري چې کېدای شي د يوې نذرانې په توګه څښتن
ته په اور باندې تياره شي، هغه بايد د خدای له قوم څخه وشړل شي. ۲۶ هرچېرې چې اوسېږئ
بايد د مارغه يا د حيوان وينه ونه خورئ. ۲۷ هرڅوک چې دا قانون مات کړي بايد د خدای له
قوم څخه وشړل شي.>

## د کاهنانو برخه

۲۸ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۲۹ <اسراييليانو ته ووايه چې هرڅوک چې د سلامتۍ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نذرانه وړاندې کوي هغه دې خښتن ته د هغې یوه برخه د خاص سوغات په توګه راوړي. (۳۰) هغه
دې په خپل لاس هغه نذرانه راوړي چې خښتن ته په اور باندې تیاریږي. هغه دې د حیوان سینه د
وازګې سره پورته ونیسي ترڅو دا وښایي چې هغه ماته وقف شوي دي. (۳۱) کاهن به وازګه په
قربانګاه باندې وسوزوي، مګر سینه به د کاهنانو شي. (۳۲) همدارنګه تاسو باید د خپلې سلامتیٔ د
نذرانې د حیوان شاتنیٔ ښي پښه کاهن ته د خاصې اعانې په توګه ورکړئ. (۳۳) کاهن چې د
سلامتیٔ د نذرانې وینه او وازګه وړاندې کوي، هغه به شاتنیٔ ښي پښه د خپلې برخې په توګه واخلي.
(۳۴) د حیوان سینه یو خاص سوغات دی او شاتنیٔ ښي پښه یوه خاصه اعانه ده چې خښتن د
اسراییلو د خلکو څخه اخیستې او کاهنانو ته یې ورکړې ده. په دې خاطر د اسراییلو خلک باید هغه
د تل دپاره کاهنانو ته ورکړي.>

(۳۵) دا د هغې نذرانې برخه ده چې خښتن ته په اور باندې تیاریږي چې حضرت هارون او د هغه
زامنو ته په هغه ورځ ورکړل شوه په کومه ورځ چې هغوی د کاهنانو په توګه د خښتن د خدمت
دپاره وټاکل شول. (۳۶) په هغه ورځ خښتن د اسراییلو په قوم باندې امر وکړ چې هغوی ته د
نذرانې دا برخه ورکړي. دا یو داسې قانون دی چې د اسراییلو قوم باید د تل دپاره ورته غاړه
کېږدي.

(۳۷) دا مقررات د دغو نذرانو دپاره دي لکه سوزېدونکې نذرانې، د غلې دانې نذرانې، د ګناه
نذرانې، د تاوان نذرانې، د ټاکنې نذرانې او د سلامتیٔ نذرانې. (۳۸) په دښته کې د سینا په غره باندې
خښتن حضرت موسیٰ ته دا حکمونه ورکړل او په هماغه ورځ حضرت موسیٰ د اسراییلو قوم ته
وفرمایل چې خپلې نذرانې راوړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت هارون او د هغه د زامنو ټاکنه

(هجرت ۲۹: ۱ – ۳۷)

۸ ۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۲ <هارون او د هغه زامن راوله. د هغوی د
کاهنتوب کالي، د مسح کولو تېل، د ګناه د نذرانې دپاره غویی، دوه پسونه او هغه ټوکرۍ چې فطیره
ډوډۍ په کې ده ټول راوړه. ۳ بیا ټول قوم د مقدسې خېمې د دروازې خوله ته راغونډ کړه.>

۴ حضرت موسیٰ د څښتن امر په ځای کړ او کله چې قوم راغونډ شو ۵ هغه ورته وفرمایل:
<اوس چې زه کوم کار کوم هغه د څښتن امر دی.>

۶ بیا حضرت موسیٰ حضرت هارون او د هغه زامن راوستل او غسل یې ورباندې وکړ. ۷
هغه حضرت هارون ته کمیس او چپنه واغوستل، د هغه په ملا باندې یې یوه پټۍ وتړله او مقدس
پېشبند یې ورباندې واچاوه او هغه یې په هغه ښه اوبدل شوي کمربند باندې وتاړه چې د هغه د ملا
څخه تاو ؤ. ۸ د هغه په سینه باندې یې سینه پوښ وتاړه او په هغه کې یې اوریم او تمیم
کېښودل. ۹ لکه څنګه چې څښتن په حضرت موسیٰ باندې امر کړی ؤ، هغه حضرت هارون ته
لونګۍ ور په سر کړه او د هغې په مخه کې یې د سرو زرو ګل یعنې د وقف کولو پاک نښان کېښود.

۱۰ بیا حضرت موسیٰ د مسح کولو تېل واخیستل او هغه یې په خېمه او ټول شیان چې په هغې
کې وو په هغو باندې وشیندل او په دې ډول یې هغه ټول څښتن ته وقف کړل. ۱۱ هغه لږ تېل
واخیستل او اووه ځلې یې په قربانګاه باندې وشیندل او قربانګاه یې د لوښو او تشت سره چې پایه
یې درلودله مسح کړه چې څښتن ته یې وقف کړي. ۱۲ همدارنګه هغه د مسح کولو لږ تېل د
حضرت هارون په سر باندې توی کړل او هغه یې د کاهنۍ د وظیفې دپاره مسح کړ. ۱۳ بیا لکه
څنګه چې څښتن په حضرت موسیٰ باندې امر کړی ؤ، هغه د حضرت هارون زامن مخکې راوستل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغوی ته يې کميسونه واغوستل، په ملاګانو باندې يې ورته پټۍګانې وتړلې او خولۍګانې يې
ورته په سر کړې.

۱۴ بيا حضرت موسیٰ د ګناه د نذرانې دپاره غويی راوست او حضرت هارون او د هغه زامنو د
هغه په سر باندې خپل لاسونه کېښودل. ۱۵ حضرت موسیٰ غويی حلال کړ او لږه وينه يې
راواخيستله او هغه يې په خپله ګوته باندې د قربانۍ د ځای په ټولو برجونو باندې وسولوله، د دې
دپاره چې د قربانۍ ځای مقدس شي. بيا هغه پاتې وينه د قربانۍ د ځای په بېخ کې توی کړه. په دې
ډول د قربانۍ ځای پاک شو او هغه د ګناه په خاطر د قربانۍ د نذرانې دپاره يو مناسب ځای شو.
۱۶ همدارنګه حضرت موسیٰ ټوله وازګه چې په کولمو باندې پرته وه، د اينې ډېره ښه برخه او
پښتورګي چې وازګهورباندې پرته وي واخيستل او ټول يې په قربانګاه باندې وسوزول. ۱۷
څنګه چې څښتن امر کړی ؤ هغه پاتې غويی د پوستکي، غوښې او خوشايو سره واخيست او هغه
يې د کمپ څخه دباندې وسوزاوه.

۱۸ بيا حضرت موسیٰ د سوزېدونکې نذرانې دپاره پسه راوست او حضرت هارون او د هغه زامنو
د پسه په سر باندې خپل لاسونه کېښودل. ۱۹ حضرت موسیٰ پسه حلال کړ او وينه يې د قربانۍ
د ځای په څلورو خواو باندې وشيندله. ۲۰ هغه پسه ټوټې ټوټې کړ او سر، ټوټې او وازګه يې
وسوزول. ۲۱ څنګه چې څښتن په حضرت موسیٰ باندې امر کړی ؤ، هغه د نس دننۍ برخې او
پښې ومينځلې او ټول پسه يې په قربانګاه باندې وسوزاوه. دا يوه سوزېدونکې نذرانه وه چې بوی
يې په څښتن باندې ښه لګېږي.

۲۲ بيا حضرت موسیٰ بل پسه راوست. دا پسه د کاهنانو د ټاکنې دپاره ؤ. حضرت هارون او د
هغه زامنو خپل لاسونه د هغه په سر باندې کېښودل. ۲۳ حضرت موسیٰ پسه حلال کړ او د هغه
لږه وينه يې واخيستله او د حضرت هارون د ښي غوږ په نرمۍ، د ښي لاس په غټې ګوتې او د ښي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پښې په غټې ګوتې يې وسولوله. ۲۴ بيا يې د حضرت هارون زامن مخکښې راوستل او د هغوی د
ښي غوږونو په نرميو، د ښي لاسونو په غټو ګوتو او د ښي پښو په غټو ګوتو يې لږه وينه وسولوله او
پاتې وينه يې د قربانۍ د ځای په څلورو خواو باندې وشيندله. ۲۵ هغه وازګه، لم، هغه ټوله وازګه
چې په کولمو باندې پرته وي، د اينې ډېره ښه برخه، پښتورګي د وازګې سره چې ورباندې پرته وي
او ښي ورون واخيستل. ۲۶ بيا هغه د فطيرې ډوډۍ له ټوکرۍ څخه چې څښتن ته وقف شوې وه
يوه ساده ډوډۍ، يوه غوړه ډوډۍ او يوه نرۍ ډوډۍ راواخيستله او د وازګې او ښي ورون دپاسه يې
کېښودله. ۲۷ حضرت موسیٰ هغه ټول د حضرت هارون او د هغه د زامنو په لاسونو کې کېښودل
او دوی هغه پورته ونيول ترڅو دا وښايي چې هغه څښتن ته وقف شوي دي. ۲۸ بيا حضرت
موسیٰ دا شيان له هغوی څخه بېرته واخيستل او هغه يې د ټاکنې د نذرانې په توګه د سوزېدونکې
نذرانې سره په قربانګاه باندې وسوزول. د داسې نذرانې بوی په څښتن باندې ښه لګېږي. ۲۹ بيا
حضرت موسیٰ د پسه سينه راواخيستله او د څښتن په حضور کې يې پورته ونيوله ترڅو دا وښايي
چې هغه څښتن ته وقف شوې ده. دا د ټاکنې په پسه کې د حضرت موسیٰ برخه وه. حضرت موسیٰ
دا ټول کارونه د څښتن د حکم سره سم سرته ورسول.

۳۰ حضرت موسیٰ لږ د مسح کولو تېل او لږه وينه چې په قربانګاه باندې پرته وه واخيستل او په
حضرت هارون، د هغه په زامنو او د هغو په کاليو باندې يې وشيندل. په دې ډول يې هغوی او د
هغوی کالي څښتن ته وقف کړل.

۳۱ حضرت موسیٰ هارون او د هغه زامنو ته وفرمايل: ”لکه څنګه چې څښتن امر کړی دی دا
غوښه د مقدسې خېمې د دروازې په خوله کې پخه کړئ او هلته يې د هغې ډوډۍ سره چې د ټاکنې
د نذرانې په ټوکرۍ کې ده وخورئ. ۳۲ کومه غوښه يا ډوډۍ چې پاتې شي هغه وسوزوئ. ۳۳
تاسو به اووه ورځې د خېمې د دروازې له خولې څخه نه ځئ ترڅو پورې چې ستاسو د ټاکنې
مراسم پوره شوي نه وي. ۳۴ مونږ چې نن کوم کار وکړ څښتن د هغه د کولو حکم مونږ ته کړی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ؤ، د دې په خاطر چې ستاسو د ګناه دپاره کفاره ادا کړو. ۳۵ تاسو باید د مقدسې خېمې د
دروازې په خوله کې اووه شپې او اووه ورځې پاتې شئ او هغه کار به کوئ چې څښتن یې امر کړی
دی. که چېرې داسې ونه کړئ نو مړه به شئ. ځکه چې څښتن په ما باندې داسې امر کړی دی.<
۳۶ نو حضرت هارون او د هغه زامنو ټول کارونه د څښتن د هغه حکم په مطابق وکړل چې د
حضرت موسیٰ په وسیله یې کړی ؤ.

## کاهنان خپل خدمت پیل کوي

۹ ۱ د کاهنانو د پاکنې د مراسمو څخه وروسته حضرت موسیٰ په اتمه ورځ حضرت هارون او
د هغه زامن او د اسراییلو مشران راوغوښتل. ۲ هغه حضرت هارون ته وفرمایل: >یو خوسی او
یو پسه چې کوم عیب په کې نه وي واخله او څښتن ته یې وړاندې کړه. خوسی د ګناه د نذرانې
دپاره دی او پسه د سوزېدونکې نذرانې دپاره دی. ۳ بیا د اسراییلو خلکو ته ووایه: یو وز د ګناه
د نذرانې دپاره واخلئ. یو خوسی چې یو کلن وي او یو وری چې یو کلن وي او هیڅ عیب په کې
نه وي، د سوزېدونکې نذرانې دپاره واخلئ ۴ او یو غويی او یو پسه د سلامتیٰ د نذرانې دپاره.
هغوی دې دا د څښتن په حضور کې د غلې دانې د نذرانې سره چې تېل ورسره ګډ وي قرباني کړي.
هغوی باید دا کار وکړي ځکه چې څښتن به نن هغوی ته ورښکاره شي.<

۵ نو هغوی ټول شیان د حضرت موسیٰ د حکم سره سم د مقدسې خېمې مخې ته راوړل او ټول
قوم د څښتن د عبادت دپاره هلته راغونډ شو. ۶ حضرت موسیٰ وفرمایل: >څښتن تاسو ته
حکم کړی دی چې دا کار وکړئ، ترڅو د هغه جلال تاسو ته ښکاره شي.< ۷ بیا حضرت
موسیٰ هارون ته وفرمایل: >د قربانۍ ځای ته لاړ شه او لکه څنګه چې څښتن امر کړی دی اول د
خپل ځان او بیا د قوم د ګناهونو د کفارې د ادا کولو په خاطر د ګناه نذرانه او سوزېدونکې نذرانه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وړاندې کړه.>

۸ نو حضرت هارون د قربانۍ ځای ته لاړ او د ځان دپاره يې د ګناه د نذرانې په توګه خوسی حلال کړ. ۹ د هغه زامنو هغه ته وينه راوړله او هغه خپله ګوته په وينه کې غوټه کړه او له هغې څخه يې لږه د قربانۍ د ځای په برجونو باندې وسولوله. پاتې وينه يې د قربانۍ د ځای په بېخ کې توی کړه. ۱۰ لکه څنګه چې څښتن په حضرت موسیٰ باندې امر کړی ؤ، هغه په قربانګاه باندې د ګناه د نذرانې څخه وازګه، پښتورګي او د اينې ډېره ښه برخه وسوزوله. ۱۱ مګر غوښه او پوستکی يې د کمپ څخه دباندې وسوزول.

۱۲ حضرت هارون هغه حيوان حلال کړ چې د هغه د خپلې سوزېدونکې نذرانې دپاره ؤ. هغه ته خپلو زامنو وينه راوړله او هغه دا وينه د قربانۍ د ځای په څلورو خواو باندې وشيندله. ۱۳ هغوی حضرت هارون ته سر او د حيوان نورې ټوټې ورکړې او هغه يې په قربانګاه باندې وسوزول. ۱۴ هغه د نس دننۍ برخې او شاتنۍ پښې ومينځلې او په قربانګاه باندې يې د سوزېدونکې نذرانې دپاسه وسوزولې.

۱۵ بيا حضرت هارون هغه نذرانه راوړله چې د قوم دپاره وه. ده هغه وز چې د قوم د ګناه دپاره ؤ حلال کړ او هغه يې د ګناه د نذرانې دپاره وړاندې کړ، لکه څنګه چې هغه د خپلې ګناه دپاره وړاندې کړی ؤ. ۱۶ همدارنګه هغه سوزېدونکې نذرانه راوړله او هغه يې د مقرراتو په مطابق وړاندې کړه. ۱۷ بيا يې د غلې دانې نذرانه وړاندې کړه، له هغې څخه يې يو موټی واخيست او هغه يې په قربانګاه باندې برسېره پر هغې سوزېدونکې نذرانې چې هر سهار تيارېږي وسوزاوه. ۱۸ حضرت هارون غويی او پسه د قوم دپاره د سلامتۍ د نذرانې په توګه حلال کړل. د هغه زامنو هغه ته وينه راوړله او هغه دا وينه د قربانۍ د ځای په څلورو خواو باندې وشيندله. ۱۹ هغوی د غويي او د پسه وازګينې برخې، لم، د وازګې پرده، پښتورګي او د اينې ډېره ښه برخه واخيستل ۲۰ او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه يې د حيواناتو په سينو باندې کېښودل او بيا حضرت هارون وازګه په قربانګاه باندې وسوزوله.
۲۱ ځنګه چې حضرت موسیٰ امر کړی ؤ، حضرت هارون د هغو حيواناتو سينې او شاتنی ښې
پښې څښتن ته پورته ونيولې ترڅو دا وښايي چې هغه څښتن ته وقف شوې دي.

۲۲ کله چې حضرت هارون د قربانيو مراسم سرته ورسول، نو خپل لاسونه يې د قوم خواته پورته
ونيول او برکت يې ورته ورکړ او د قربانۍ د ځای څخه راکوز شو. ۲۳ حضرت موسیٰ او حضرت
هارون مقدسې خېمې ته ورننوتل. کله چې هغوی راووتل، قوم ته يې برکت ورکړ او د څښتن جلال
ټول قوم ته ښکاره شو. ۲۴ د څښتن له حضور څخه اور نازل شو او سوزېدونکې نذرانه او
وازګينې برخې يې په قربانګاه باندې وسوزولې. کله چې ټول قوم هغه وليدل نو د خوشالۍ چيغې يې
ووهلې او په سجده شول.

## د ناداب او ابيهو ګناه

۱۰ ۱ د حضرت هارون زامنو ناداب او ابيهو هر يو خپل د اور لوښی راواخيست او په هغې
کې يې بل شوي سکاره واچول، خوشبويي يې ورزياته کړه او هغه يې څښتن ته وړاندې کړل. مګر
دا اور مقدس نه ؤ، ځکه چې څښتن په هغوی باندې د هغه د وړاندې کولو امر نه ؤ کړی. ۲ نو
څښتن يوناڅاپه اور نازل کړ او هغوی يې په خپل حضور کې وسوزول او مړه شول. ۳ بيا
حضرت موسیٰ هارون ته وفرمايل: <څښتن د دې په هکله خبرې کولې او دا يې فرمايل:

هغه خلک چې خدمت کوي زما

بايد وکړي احترام د مقدس توب زما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ټول قوم په نظر کې به

زه دروند يم>

مګر حضرت هارون غلی پاتې شو.

۴ حضرت موسیٰ ميشائيل او الصافان چې د حضرت هارون او حضرت موسیٰ د تره عزيئيل
زامن وو، راوغوښتل او ورته ويې فرمايل: <دلته راشئ، د خپل تره د زامنو مړي د مقدس ځای
څخه لېرې له کمپ څخه دباندې يوسئ.> ۵ نو هغوی راغلل او څنګه چې حضرت موسیٰ
حکم کړی ؤ، د هغوی مړي يې له کاليو څخه ونيول او د کمپ څخه يې دباندې يوړل.

۶ بيا حضرت موسیٰ هارون او د هغه زامنو العازار او ايتامار ته وفرمايل: <خپل ويښتان ګډوډ
مه پرېږدئ او خپل کالي مه شلوئ چې دا وښايي چې تاسو غمجن يئ. که چېرې داسې وکړئ نو
تاسو به مړه شئ او څښتن به په ټول قوم باندې په قهر شي. مګر نور ټول اسراييليان کولی شي چې
د هغو دوو نفرو دپاره چې څښتن د اور په وسيله له منځه وړي دي وژاړي. ۷ د خېمې د
دروازې له خولې څخه مه ځئ که نه، نو تاسو به مړه شئ، ځکه چې تاسو د څښتن د مسح کولو په
تېلو باندې پاک شوي يئ.> نو څنګه چې حضرت موسیٰ فرمايلي وو هغوی هماغسې وکړل.

## د کاهنانو دپاره مقررات

۸ څښتن حضرت هارون ته وفرمايل: ۹ <ته او ستا زامن د شرابو يا بيرو د څښلو څخه
وروسته مقدسې خېمې ته مه ورننوزئ، که چېرې داسې وکړئ نو مړه به شئ. دا يو دايمي قانون دی
چې ستاسو ټوله اولاده به ورباندې عمل کوي. ۱۰ تاسو بايد د هغه شيانو ترمنځ فرق وکړئ چې
کوم د خدای دي او کوم د عمومي استعمال دپاره دي او کوم پاک دي او کوم ناپاک. ۱۱ بايد د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اسراييلو قوم ته هغه ټول قوانين ورزده کړئ چې ما تاسو ته د موسیٰ په وسيله درکړي دي.>

۱۲ بيا حضرت موسیٰ هارون او د هغه پاتې زامنو العازار او ايتامار ته وفرمايل: <د غلې دانې
هغه نذرانه چې څښتن ته په اور باندې د تيارېدونکو نذرانو څخه پاتې شوې ده واخلئ، له هغې
څخه فطيره ډوډی پخه کړئ او د قربانۍ د ځای په څنګ کې يې وخورئ ځکه چې دا نذرانه ډېره
مقدسه ده. ۱۳ هغه په يو مقدس ځای کې وخورئ، ځکه چې دا ستا او ستا د زامنو د هغو نذرانو
برخه ده چې څښتن ته په اور باندې تيارېږي. دا هغه څه دي چې څښتن يې په ما باندې امر کړی
دی. ۱۴ مګر سينه او شاتنی پښه چې پورته نيول کيږي هغه دې په داسې ځای کې چې په مذهبي
لحاظ پاک وي وخوړل شي. دا برخه تاسو، ستاسو زامنو او لورګانو ته ستاسو د برخې په توګه د
سلامتۍ د هغو نذرانو څخه چې د اسراييلو د خلکو له خوا وړاندې کيږي درکول کيږي. ۱۵ شاتنی
پښه او سينه بايد د هغو نذرانو د وازګې سره چې په اور باندې تيارېږي څښتن ته پورته ونيول شي.
بيا لکه څنګه چې څښتن امر کړی دی، هغه به د همېش دپاره ستاسو او ستاسو د اولادې برخه
وي.>

۱۶ حضرت موسیٰ د هغه وز په باره کې پوښتنه وکړه چې د ګناه د نذرانې دپاره ؤ او خبر شو
چې هغه سوزول شوی دی. په دې خبره هغه په العازار او ايتامار باندې په قهر شو او پوښتنه يې
وکړه: ۱۷ <تاسو ولې د ګناه نذرانه په يو مقدس ځای کې ونه خوړله؟ هغه ډېره مقدسه ده او
څښتن د دې دپاره تاسو ته درکړې وه چې د کفارې په ادا کولو سره د قوم څخه ګناه لېرې شي.
۱۸ په دې خاطر چې د هغه وينه مقدسې خېمې ته نه وه وړل شوې، نو تاسو بايد د وز غوښه
هلته خوړلې وای، لکه څنګه چې ما درته امر کړی ؤ.>

۱۹ حضرت هارون په ځواب کې وفرمايل: <که چېرې ما د ګناه نذرانه نن خوړلې وای، آيا
څښتن به هغه قبوله کړې وای؟ قوم خپله د ګناه نذرانه نن څښتن ته وړاندې کړه او خپله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سوزېدونکي نذرانه يې راوړله، مګر بياهم په ما باندې دا هيبتناکه پېښې وشوې.> ۲۰ کله چې
حضرت موسیٰ دا خبرې واورېدلې، هغه قانع شو.

## حلال او حرام حيوانات

(تثنيه ۱۴: ۳ – ۲۱)

۱۱ ۱ څښتن حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته وفرمايل: ۲ <اسراييليانو ته ووايئ
چې د ټولو حيواناتو له جملې څخه چې په ځمکه باندې ژوند کوي، يعنې هغه حيوانات چې غوښه
يې خوړلی شئ هغه دا دي: ۳ هر حيوان چې خلاص سوم ولري او شخوند وهونکی هم وي.
۴ خو داسې حيوانات شته چې يوازې شخوند وهونکي دي يا يوازې خلاص سوم لري، خو
تاسو بايد د هغو غوښه ونه خورئ. لکه اوښ، که څه هم هغه شخوند وهونکی دی، مګر خلاص
سوم نه لري. دا ستاسو دپاره ناپاک دی. ۵ غرنی سويه، که څه هم هغه شخوند وهونکې ده مګر
خلاص سوم نه لري، دا ستاسو دپاره ناپاکه ده. ۶ سويه، که څه هم شخوند وهونکې ده مګر
خلاص سوم نه لري. دا ستاسو دپاره ناپاکه ده. ۷ د خوګ غوښه مه خورئ. هغه بايد ناپاک
وګڼل شي. هغه خلاص سومان لري، مګر شخوند وهونکی نه دی. ۸ تاسو بايد د دې حيواناتو
غوښه ونه خورئ او مه د هغو مړو ته لاس وروړئ، دا ستاسو دپاره ناپاک دي.

۹ تاسو کولی شئ هر ډول ماهيان چې وزرونه او پترې ولري وخورئ، ۱۰ مګر هر حيوان
چې په اوبو کې ژوند کوي او وزرونه او پترې نه لري بايد غوښه يې ونه خوړل شي. ۱۱ داسې
حيوانات بايد حرام وګڼل شي. تاسو بايد د هغو غوښه ونه خورئ او حتیٰ مړو ته يې لاس هم مه
وروړئ. ۱۲ هر شی چې په اوبو کې ژوند کوي او وزرونه او پترې ونلري بايد ونه خورئ.

۱۳-۱۹ دا هغه مرغان دي چې تاسو يې بايد حرام وګڼئ: عقاب او ډول ډول ټپوسان، هر ډول

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بانبې، هر ډول کارغان، شترمرغ، ډول ډول ګونګیان، د دریاب مرغان، لګ لګ، هر ډول ماهي
خوړونکي مرغان، ملاچرګک او شوپرک.

٢٠ ټول وزر لرونکي حشرات حرام دي، ٢١ بغیر د هغو حشراتو څخه چې ټوپونه وهي. ٢٢
له هغو څخه کولی شئ چې ډول ډول چورچورکی او ملخان وخورئ. ٢٣ مګر نور ټول وزر
لرونکي حشرات چې په پښو باندې هم ګرځي باید حرام وګڼل شي.

٢٤-٢٨ هرڅوک چې د دغو حیواناتو مړو ته لاس وروړي هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وي:
ټول سوم لرونکي حیوانات، له هغو پرته چې سومان یې هم جدا وي او شخوند هم وهي او ټول
حیوانات چې څلور پښې ولري او پنجې ولري. هرڅوک چې د هغو مړي یوسي باید هغه خپل کالي
ومینځي، خو تر ماښامه پورې به ناپاک وي.

٢٩ د هغو حیواناتو څخه چې په ځمکه باندې ګرځي، دغه حیوانات ستاسو دپاره ناپاک دي: ړنده
مږه، موږک، هر ډول سمساره، ٣٠ ډول ډول د کور او د شګې چرموښکی او کربوړی. ٣١
هرڅوک چې د هغو مړو ته لاس وروړي، هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وي. ٣٢ که چېرې د
هغو مړي په یو شي باندې ولویږي، هغه شی به ناپاک شي. همداسې کار به د لرګي، ټوکر، څرمنې، یا
بوجۍ په موادو باندې کیږي او مهمه نه ده چې هغه د څه شي دپاره استعمالیږي. هغه دې په اوبو کې
غوټه کړای شي خو تر ماښامه پورې به ناپاک پاتې شي. ٣٣ که چېرې د هغو مړي د ختې په یو
لوښي کې وغورزیږي، هرڅه چې په هغه کې دي ناپاک به شي او تاسو باید هغه لوښی مات کړئ.
٣٤ کوم خواړه چې په عادي توګه حلال وي، مګر که له داسې لوښي څخه په هغو خواړو باندې
اوبه توی شي، هغه به ناپاک شي او د څښلو هرڅه چې په دې لوښي کې وي هغه ناپاک دي. ٣٥
په هر شي باندې چې د هغو مړي ولویږي هغه شی ناپاکه کیږي، که په هغو کې نغری یا د پخلي
لوښی شامل وي هغه باید مات شي. ٣٦ مګر یوه چینه یا کوهی چې دغه مړه حیوانات په کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پراته وي، هغه پاک پاتې کېږي. لیکن هرڅوک چې د دغو مړو له جملې څخه کوم یو ته لاس
وروړي، هغه به ناپاک شي. ۳۷ که چېرې یو داسې مړی په هغو تخمونو باندې وغورزیږي چې
کرل کیږي، هغه تخمونه پاک پاتې کیږي. ۳۸ مګر که چېرې په تخمونو باندې اوبه توی شوې وي
او په هغه باندې یو داسې مړی ولویږي، هغه ستاسو دپاره ناپاک دی.

۳۹ که چېرې یو حیوان چې ستاسو دپاره پاک وي مړ شي، هرڅوک چې د هغه مړي ته لاس
وروړي هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وي. ۴۰ هرڅوک چې د دې مړ حیوان د غوښې څخه لږه
غوښه وخوري، باید خپل کالي ومینځي، خو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وي. هرڅوک چې د
هغه مړی راپورته کړي، هغه باید خپل کالي ومینځي خو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وي.

۴۱ هره خزنده چې په ځمکه باندې ګرځي، باید ونه خوړل شي. ۴۲ ستاسو دپاره هره خزنده
حرامه ده، که هغه په سینه باندې ښوئیږي یا په څلورو یا په ډېرو پښو ګرځي. ۴۳ د هغو څخه د
کوم یو په خوړلو سره خپل ځانونه مه ناپاکه کوئ. ۴۴ زه ستاسو څښتن خدای یم، تاسو باید
خپل ځانونه پاک کړئ او مقدس اوسئ، ځکه چې زه مقدس یم. خپل ځانونه په هیڅ یوې خزندې
باندې مه ناپاکه کوئ. ۴۵ زه څښتن یم چې تاسو مې له مصر څخه راوویستلئ ترڅو ستاسو
خدای اوسم. له دې کبله تاسو باید مقدس اوسئ، ځکه چې زه مقدس یم.

۴۶ دا مقررات د حیواناتو، مرغانو او هرڅه چې په اوبو کې ژوند کوي او ټولو خزندو په باره کې
دي. ۴۷ تاسو باید پام وکړئ چې د پاک او ناپاک او همدارنګه د حلالو او حرامو حیواناتو ترمنځ
فرق وکړئ.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اولاد د زیږولو څخه وروسته د ښځو پاکوالی

۱۲ ۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۲ <اسراییلیانو ته ووایه چې کله یوه ښځه
امیدواره شي او زوی وزیږوي، هغه به اووه ورځې د خپلې میاشتینۍ ناروغۍ په شان ناپاکه وي.
۳ په اتمه ورځ دې هلک سنت شي. ۴ بیا باید هغه ښځه د وینې د بهېدلو څخه د پاکېدلو
دپاره درې دېرش ورځې صبر وکړي. هغه باید هیڅ یو پاک شي ته لاس ورنه وړي او نه دې د
پاکېدلو د ورځو د پوره کېدو پورې مقدسې خېمې ته ورننوزي.

۵ که چېرې هغه لور وزیږوي، دا ښځه به څوارلس ورځې ناپاکه وي، لکه څنګه چې د میاشتینۍ
ناروغۍ په دوران کې ناپاکه کیږي. بیا باید هغه ښځه د وینې د بهېدلو څخه د پاکېدلو دپاره شپږشپېته
ورځې صبر وکړي. ۶ کله چې د یو زوی یا د یوې لور د زیږولو دپاره د پاکېدلو ورځې خلاصې
شي، هغه دې د مقدسې خېمې د دروازې په خوله کې کاهن ته ورشي. هغه دې یو یو کلن وری د
سوزېدونکې نذرانې دپاره او یوه قمري یا یوه کوتره د ګناه د نذرانې دپاره راوړي. ۷ کاهن به د
هغې دپاره د کفارې د ادا کولو په خاطر هغه د څښتن په حضور کې وړاندې کړي او هغه ښځه به د
وینې د بهېدلو څخه پاکه شي. دا مقررات د هغې ښځې دپاره دي چې یو هلک یا یوه نجلۍ
وزیږوي. ۸ که چېرې دا ښځه یو وری نه شي اخیستلی، نو دوه کوترې یا دوه قمري ګانې دې
راوړي، یوه د سوزېدونکې نذرانې دپاره او بله د ګناه د نذرانې دپاره او کاهن به د هغې د ناپاکۍ د
لېرې کولو دپاره مراسم سرته ورسوي او هغه به پاکه شي.>

## د پوستکي د ناروغیو په اړه مقررات

۱۳ ۱ څښتن حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته وفرمایل: ۲ <کله چې د چا په
پوستکي باندې زخم، دانه یا پړسوب وي چې کېدای شي هغه د پوستکي په یوې ساري ناروغۍ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې بدله شي، هغه باید هارون کاهن یا د هغه یو زوی ته چې کاهن وي راوستل شي. ۳ کاهن
دې د هغه زخم معاينه کړي او که چېرې په هغه کې ویښتان سپین شوي وو او زخم د پوستکي
څخه ژور ښکاره کېده، نو دا د پوستکي ساري ناروغي ده. نو کاهن به هغه نفر ناپاک اعلان کړي.
۴ که چېرې د هغه د پوستکي زخم سپین ؤ خو د پوستکي څخه ژور نه ښکاره کېده او ویښتان
په کې سپین شوي نه وو، کاهن دې هغه ناروغه نفر د اوو ورځو دپاره د نورو څخه جدا وساتي.
۵ کاهن به په اوومه ورځ هغه بیا معاینه کړي او که چېرې د هغه په نظر کې زخم هماغه شان
ښکاره کېده او خپور شوی نه ؤ، کاهن به هغه د نورو اوو ورځو دپاره جدا وساتي. ۶ په اوومه
ورځ دې کاهن هغه د دوهم ځل دپاره معاینه کړي. که چېرې زخم مړاوی شوی ؤ او په پوستکي
کې نه ؤ خپور شوی، کاهن به هغه پاک اعلان کړي، دا یوازې یوه ګرمکه ده. هغه نفر باید خپل کالي
ومینځي او هغه به پاک شي. ۷ مګر که چېرې کاهن هغه نفر معاینه کړی وي او هغه يې پاک
اعلان کړی وي او له هغې څخه وروسته ګرمکه د هغه په بدن باندې خپره شي، هغه باید خپل ځان
بیا کاهن ته ورښکاره کړي. ۸ کاهن دې هغه معاينه کړي، که چېرې هغه ګرمکه په بدن باندې
خپره شوې وه، کاهن به هغه ناپاک اعلان کړي، دا یوه ساري ناروغي ده.

۹ کله چې یو نفر د پوستکي ساري ناروغي ولري، هغه باید کاهن ته راوستل شي. ۱۰ کاهن
دې هغه معاينه کړي، که چېرې په پوستکي کې یو سپین زخم وي چې ویښتان يې سپین کړي وي او
که چېرې په پړسوب کې خامه غوښه وي، ۱۱ نو دا د پوستکي یوه دوامداره ناروغي ده او کاهن
به هغه ناپاک اعلان کړي. کاهن دې هغه د معاينې دپاره جدا ونه ساتي، ځکه چې هغه په ښکاره
ناپاک دی. ۱۲-۱۳ مګر که چېرې د ناروغۍ موده تېره شوې وي او یوازې داغونه پاتې وي،
کاهن به هغه نفر پاک اعلان کړي. ۱۴ مګر هرکله چې په هغه باندې خامه غوښه راښکاره شي،
هغه به ناپاک شي. ۱۵ کله چې کاهن دا خامه غوښه ووینې، هغه نفر به ناپاک اعلان کړي. خامه
غوښه ناپاکه ده، هغه نفر په ساري ناروغۍ اخته دی. ۱۶ مګر کله چې دا خامه غوښه روغه شي
او بیا سپینه شي، هغه نفر باید کاهن ته ورشي. ۱۷ کاهن دې هغه معاينه کړي، که چېرې د زخم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښخه يوازې سپين داغونه پاتې وي کاهن به هغه ناروغه نفر پاک اعلان کړي، بيا به هغه پاک شي.

۱۸ کله چې د يو چا په پوستکي باندې يوه دانه وي او روغه شي ۱۹ او په هغه ځای باندې
چې دانه وه، يو سپين پړسوب يا سوربخن سپين داغ راښکاره شي، هغه بايد خپل ځان کاهن ته
وربنکاره کړي. ۲۰ کاهن دې هغه معاينه کړي، که چېرې هغه د پوستکي ښخه ژور وي او ويښتان
په کې سپين شوي وي، کاهن به هغه ناپاک اعلان کړي. دا د پوستکي يوه ساري ناروغي ده چې د
دانې په ځای منځته راغلې ده. ۲۱ مګر که چېرې کاهن هغه معاينه کړي او سپين ويښتان په کې نه
وي او د پوستکي ښخه ژور نه وي او مړاوی شوی وي، بيا دې کاهن هغه نفر د اوو ورځو دپاره
جدا وساتي. ۲۲ که چېرې هغه زخم په پوستکي کې خپرېږي، کاهن به هغه نفر ناپاک اعلان کړي،
دا ساري ناروغي ده. ۲۳ مګر که چېرې هغه بدل شوی او خپور شوی نه وي، دا يوازې د دانې
داغ دی او کاهن به هغه نفر پاک اعلان کړي.

۲۴ کله چې د يو چا پوستکی سوزېدلی وي او د سوزېدلي ځای په خامه غوښه کې يو سوربخن
سپين يا سپين داغ راښکاره شي، ۲۵ نو کاهن دې هغه داغ معاينه کړي. که چېرې په هغه کې
ويښتان سپين شوي وو او د پوستکي ښخه ژور ښکارېده، دا د پوستکي يوه ساري ناروغي ده چې
په هغه سوزېدلي ځای کې پيل شوې ده. کاهن به هغه نفر ناپاک اعلان کړي. ۲۶ مګر که چېرې
کاهن هغه معاينه کړي او په داغ کې سپين ويښتان نه وي او هغه د پوستکي ښخه ژور نه وي او
مړاوی شوی وي، بيا دې کاهن هغه نفر د اوو ورځو دپاره جدا وساتي. ۲۷ په اوومه ورځ دې
کاهن هغه معاينه کړي. که چېرې هغه خپرېږي، کاهن به هغه نفر ناپاک اعلان کړي، دا د پوستکي
يوه ساري ناروغي ده. ۲۸ خو که چېرې بياهم التهاب بدل شوی نه وي او خپور شوی نه وي مګر
مړاوی شوی وي، نو دا د سوزېدلي ځای پړسوب دی او کاهن به هغه نفر پاک اعلان کړي. دا يوازې
د سوزېدلي ځای داغ دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۹ که چېرې د يو سړي يا د يوې ښځې په سر يا په زنه باندې زخم وي، ۳۰ نو کاهن دې هغه
زخم معاينه کړي. که چېرې هغه د پوستکي څخه ژور ښکاري او ژيړ نري ويښتان په کې وي، نو
کاهن به هغه نفر ناپاک اعلان کړي. دا يو خارښت دی او د سر يا د زنې ساري ناروغي ده. ۳۱
مګر کله چې کاهن د ناسور دا ډول زخم معاينه کړي، که چېرې هغه د پوستکي څخه ژور نه ښکاره
کېده، خو بياهم تور ويښتان په کې نه وو، نو کاهن دې هغه ناروغه نفر اووه ورځې جدا وساتي.
۳۲ په اوومه ورځ دې کاهن هغه زخم معاينه کړي. که چېرې خارښت خپور شوی نه ؤ او ژيړ
ويښتان په کې نه وو او د پوستکي څخه ژور نه ښکارېده، ۳۳ نو د هغه نفر ټول سر بايد وخرايل
شي بغير له زخمي ځای څخه. کاهن دې هغه نورې اووه ورځې جدا وساتي. ۳۴ په اوومه ورځ
دې کاهن هغه خارښت بيا معاينه کړي، که چېرې هغه په پوستکي کې خپور شوی نه ؤ او د
پوستکي څخه ژور نه ښکاره کېده، کاهن به هغه پاک اعلان کړي. هغه نفر بايد خپل کالي ومينځي او
پاک به شي. ۳۵ مګر که چېرې د هغه د پاکوالي د اعلان څخه وروسته خارښت خپور شي، ۳۶
کاهن دې هغه معاينه کړي او که چېرې خارښت په پوستکي کې خپور شوی وي، کاهن دا اړتيا نه
لري چې ژيړ ويښتان ولټوي، هغه نفر ناپاک دی. ۳۷ خو که چېرې د هغه په نظر کې هغه بدل
شوی نه وي او تور ويښتان په کې راشنه شوي وي، دا خارښت روغ شوی دی. هغه نفر پاک دی او
کاهن به هغه همداسې پاک اعلان کړي.

۳۸ کله چې د يو سړي يا د يوې ښځې په پوستکي باندې سپين داغونه وي، ۳۹ نو کاهن دې
هغه نفر معاينه کړي. که چېرې دا داغونه مړاوي او سپين وي، هغه يوه بې زيانه ګرمکه ده چې په
بدن باندې راختلې ده، هغه نفر پاک دی.

۴۰ که چېرې يو سړي خپل ويښتان له لاسه ورکړي وي او ګنجی شوی وي، هغه پاک دی. ۴۱
که چېرې هغه د خپلې کوپړۍ يا تندي ويښتان له لاسه ورکړي وي او لوڅ تندی ولري، هغه پاک
دی. ۴۲ مګر که چېرې د هغه په ګنجي سر يا لوڅ تندي باندې سوربخن سپين زخم وي، دا د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پوستکي يوه ساري ناروغي ده. ۴۳ کاهن دې هغه معاينه کړي او که چېرې زخم سوربخن سپين
وي، ۴۴ نو هغه سړی ناروغ او ناپاک دی. کاهن به هغه ناپاک اعلان کړي ځکه چې د هغه په سر
باندې زخم دی.

۴۵ هغه نفر چې په داسې ساري ناروغۍ اخته وي بايد شلېدلي کالي واغوندي، خپل ويښتان دې
ببر پرېږدي، خپله خوله دې پټه کړي او داسې چيغې دې ووهي: زه ناپاک يم! زه ناپاک يم! ۴۶
ترڅو پورې چې هغه نفر په دې ناروغۍ باندې اخته وي هغه ناپاک پاتې کېږي. هغه بايد يوازې او د
کمپ څخه دباندې واوسيږي.

## د چڼاسکې په هکله مقررات

۴۷ که چېرې کوم کالي چڼاسکې وهلي وي که هغه د وړيو څخه جوړ شوي وي يا د کتان کالي
وي، ۴۸ د کتان يا وړيو ټوکر، يا څرمن او يا داسې شی وي چې له څرمنې څخه جوړ شوی وي،
۴۹ که چېرې هغه چڼاسکه شنه بخنه يا سره بخنه وي، نو دا يوه خپرېدونکې چڼاسکه ده او کاهن
ته بايد وروښودل شي. ۵۰ کاهن دې هغه چڼاسکه معاينه کړي او هغه شی دې اووه ورځې جدا
کېږدي. ۵۱ په اوومه ورځ دې هغه بيا معاينه کړي. که چېرې چڼاسکه خپره شوې وه نو هغه شی
ناپاک دی. ۵۲ کاهن بايد هغه کالي وسوزوي، ځکه چې چڼاسکه خرابوونکې ده او هغه دې
وسوزول شي.

۵۳ مګر کله چې کاهن هغه معاينه کړي او دا معلومه کړي چې چڼاسکه په هغه شي باندې نه ده
خپره شوې، ۵۴ هغه به دا حکم وکړي چې دا خراب شوی شی ومينځل شي. بيا دې هغه د نورو
اوو ورځو دپاره جدا کېږدي. ۵۵ له دې وروسته چې خراب شوی شی ومينځل شي، کاهن دې
هغه بيا معاينه کړي. که چېرې چڼاسکې خپل رنګ نه وي بدل کړی، که څه هم هغه خپره شوې نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده، بیاهم هغه ناپاک دی. که دا خرابوالی په مخ کې وي یا شاته، تاسو باید دا شی وسوزوئ. ۵۶
مګر کله چې کاهن هغه معاینه کړي، که چېرې د هغه شي د مینځلو څخه وروسته چټاسکه مړاوې
شوې وي، هغه دې خرابه شوې برخه وشلوي. ۵۷ مګر که چېرې چټاسکه په پورتنیو شیانو باندې
بیا راښکاره شي، نو دا خپرېدونکې ده او په هرڅه باندې چې چټاسکه وي خاوند یې باید هغه شی
وسوزوي. ۵۸ که چېرې هغه نفر هغه شی ومینځي او چټاسکه ورکه شي هغه دې بیا ومینځل شي
نو هغه شی به پاک شي.

۵۹ دا مقررات د هغو کالیو په هکله دي چې چټاسکې وهلي وي که هغه د وړیو یا کتان څخه
جوړ شوي وي، د وړیو یا کتان ټوکر وي یا هغه شیان وي چې د څرمنې څخه جوړ شوي وي. نو
په دې ډول به کاهن کولی شي دا فیصله وکړي چې آیا دا شیان پاک دي یا ناپاک.>

## د پوستکي د ناروغیو څخه پاکوالی

۱۴ ۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۲ <دا مقررات د هغه نفر د پاکېدلو په باره کې
دي چې د پوستکي د ساري ناروغۍ څخه روغ شوی وي. په هغه ورځ چې د هغه پاکوالی اعلانیږي
باید هغه کاهن ته راوستل شي. ۳ کاهن دې د کمپ څخه دباندې لاړ شي او هغه دې معاینه
کړي. که چېرې هغه نفر د پوستکي د ساري ناروغۍ څخه روغ شوی وي، ۴ کاهن به داسې
حکم وکړي چې دوه ژوندۍ پاکې مرغۍ، د صبر لړ لرګي، سور تار او د وېلنې بوټی دې د پاکوالي د
مراسمو دپاره راوړل شي. ۵ بیا به کاهن داسې حکم وکړي چې له دې مرغیو څخه دې یو د
ختو د لوښي دپاسه چې د چینې تازه اوبه په کې وي، حلاله شي. ۶ هغه دې بله ژوندۍ مرغۍ د
صبر د لرګي، سور تار او د وېلنې د بوټي سره واخلي او د هغې مرغۍ په وینه کې دې غوټه کړي
کومه چې د تازه اوبو دپاسه حلاله شوې وه. ۷ کاهن به اووه ځلې په هغه نفر باندې چې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ساري ناروغی ښخه پاکېږي هغه وينه وشيندي او هغه به پاک اعلان کړي. بيا دې هغه ژوندی مرغۍ
په صحرا کې خوشې کړي. ۸ کوم نفر چې پاکېږي، هغه بايد خپل کالي ومينځي، خپل ټول
ويښتان دې وخرايي او غسل دې وکړي، بيا به هغه پاک شي. له دې وروسته هغه کولی شي چې
کمپ ته ورننوزي، مګر اووه ورځې بايد د خپلې خېمې ښخه دباندې واوسېږي. ۹ هغه بايد په
اوومه ورځ بيا خپل سر، ږيره، وروځې او د بدن پاتې ويښتان وخرايي. خپل کالي دې ومينځي او
غسل دې وکړي، نو هغه به پاک شي.

۱۰ هغه بايد په اتمه ورځ دغه شيان راوړي: دوه وري او يوه يو کلنه مېږه چې په هر يو کې عيب
نه وي، د غلې دانې د نذرانې دپاره درې کيلوګرامه ښه اوړه چې د زيتونو تېل ورسره ګډ وي او يوه
پياله د زيتونو تېل. ۱۱ کاهن بايد هغه نفر چې پاکېږي د دې نذرانو سره د مقدسې خېمې د
دروازې په خوله کې د ښښتن حضور ته وروليږي. ۱۲ بيا به کاهن يو ورى د يوې پيالې تېلو سره
واخلي او هغه به د تاوان د نذرانې په توګه وړاندې کړي. کاهن به دا پورته ونيسي ترڅو دا وښايي
چې هغه ښښتن ته وقف شوي دي. ۱۳ هغه دې ورى په هغه مقدس ځاى کې حلال کړي چېرته
چې د ګناه د نذرانو او سوزېدونکو نذرانو دپاره حيوانات حلالېږي. هغه بايد داسې وکړي ځکه چې
د تاوان نذرانه د ګناه د نذرانې په شان د کاهن ده او هغه ډېره مقدسه ده. ۱۴ کاهن دې د ورى له
وينې ښخه لږه وينه واخلي او د هغه نفر چې پاکېږي د هغه د ښي غوږ په نرمۍ، د ښي لاس په غټې
ګوتې او د ښي پښې په غټې ګوتې دې وسولوي. ۱۵ بيا به کاهن لږ تېل راواخلي او د خپل چپ
لاس په ورغوي کې به يې توى کړي، ۱۶ خپله ښي ګوته به په خپل ورغوي کې غوټه کړي او لږ
تېل به په خپلې ګوتې سره د ښښتن په حضور کې اووه ځلې وشيندي. ۱۷ کاهن دې لږ تېل چې د
هغه د لاس په ورغوي کې پاتې دي راواخلي او د هغه نفر چې پاکېږي د هغه د ښي غوږ په نرمۍ، د
ښي لاس په غټې ګوتې او د ښي پښې په غټې ګوتې وسولوي. ۱۸ کاهن به پاتې تېل چې د هغه
په ورغوي کې دي د هغه چا په سر باندې توى کړي څوک چې پاکېږي او د هغه دپاره به د ښښتن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په حضور کې کفاره ادا کړي.

۱۹ بیا دې کاهن د ګناه نذرانه قرباني کړي او د هغه چا دپاره دې کفاره ادا کړي چې د خپلې
ناپاکۍ څخه پاکیږي. له هغې څخه وروسته به د سوزېدونکې نذرانې دپاره حیوان حلال کړي ۲۰
او د غلې دانې د نذرانې سره به يې په قربانګاه باندې وړاندې کړي. په دې ډول به د هغه نفر دپاره
کفاره ادا کړي او هغه به پاک شي.

۲۱ که چېرې هغه نفر غریب وي او نور څه نه شي اخیستلی، باید یو وری د تاوان د نذرانې په
توګه راوړي. کاهن به هغه څښتن ته د وقف کولو دپاره پورته ونیسي او د هغه نفر دپاره به کفاره ادا
کړي. هغه به یو کیلوګرام ښه اوړه چې د زیتون تېل ورسره ګډ وي د غلې دانې د نذرانې دپاره
راوړي او یوه پیاله تېل. ۲۲ همدارنګه هغه نفر به دوه کوترې یا دوه قمري ګانې راوړي، یوه د ګناه
د نذرانې دپاره او بله د سوزېدونکې نذرانې دپاره. ۲۳ هغه باید په اتمه ورځ دا شیان د خپل ځان
د پاکېدلو دپاره د مقدسې خیمې د دروازې په خوله کې کاهن ته راوړي. ۲۴ کاهن به وری او د
زیتونو تېل د تاوان د نذرانې دپاره واخلي او څښتن ته به يې د وقف کولو دپاره پورته ونیسي. ۲۵
هغه به وری د تاوان د نذرانې په توګه حلال کړي او د هغه لږه وینه به واخلي او د هغه نفر چې
پاکیږي د هغه د ښي غوږ په نرمۍ، د ښي لاس په غټې ګوتې او د ښې پښې په غټې ګوتې به يې
وسولوي. ۲۶ بیا دې کاهن لږ تېل راواخلي او د خپل چپ لاس په ورغوي کې دې توی کړي.
۲۷ هغه دې په خپله ښي ګوته د خپل ورغوي څخه لږ تېل اووه ځلې د څښتن په حضور کې
وشیندي. ۲۸ د خپل ورغوي څخه دې لږ تېل په هماغو ځایونو باندې وسولوي چې د تاوان د
نذرانې وینه يې ورباندې سولولې وه، یعنې د هغه نفر چې پاکیږي د هغه د ښي غوږ په نرمۍ، د ښي
لاس په غټې ګوتې او د ښي پښې په غټې ګوتې دې هغه وسولوي. ۲۹ کاهن به هغه تېل چې د
هغه په ورغوي کې پاتې دي د هغه نفر په سر باندې چې پاکیږي توی کړي او په دې ډول به د هغه
دپاره د څښتن په حضور کې کفاره ادا کړي. ۳۰-۳۱ بیا به هغه نفر د هغو کوترو یا قمري ګانو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښځه يوه د ګناه د نذرانې په توګه او بله د سوزېدونکې نذرانې په توګه د غلې دانې د نذرانې سره يوځای قرباني کړي. په دې ډول به کاهن د هغه نفر دپاره چې پاکيږي د ښښتن په حضور کې کفاره ادا کړي. ۳۲ دا مقررات د هغه چا دپاره دي چې د پوستکي په ساري ناروغی باندې اخته وي او د خپل ځان د پاکوالي دپاره هغه نذرانې چې رواج وې نه شي اخيستلی.>

## په کورونو کې چنګاسکې

۳۳ ښښتن حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته وفرمايل: ۳۴ <کله چې تاسو د کنعان خاورې ته چې تاسو ته يې ستاسو د ملکيت په توګه درکوم، ورننوزئ او د هغه ځای په يو کور کې خيرېدونکې چنګاسکه پيدا کړم، ۳۵ د هغه کور خاوند بايد لاړ شي او کاهن ته داسې ووايي چې ما په خپل کور کې يو شی ليدلی دی چې د چنګاسکې په شان ښکاري. ۳۶ کاهن به داسې حکم وکړي چې مخکې له دې چې هغه د چنګاسکې د معاينه کولو دپاره لاړ شي هرڅه دې له هغه کور څخه راوويستل شي. که نه، نو هرڅه چې په هغه کور کې دي هغه به ناپاکه اعلان شي. له هغې وروسته دې کاهن دننه لاړ شي او کور دې معاينه کړي. ۳۷ هغه دې په دېوالونو باندې چنګاسکې معاينه کړي. که چېرې په هغه کې شين بخن يا سوربخن داغونه وي چې دېوال خرابوي، ۳۸ نو کاهن به د هغه کور څخه لاړ شي او کور به د اوو ورځو دپاره بند کړي. ۳۹ په اوومه ورځ به کاهن بېرته راشي او هغه کور به بيا معاينه کړي. که چېرې چنګاسکه په دېوالونو باندې خپره شوې وي ۴۰ هغه دې حکم وکړي چې هغه تيږې چې چنګاسکې ورباندې پيدا شوې دي هغه دې لېرې شي او د ښار څخه دې دباندې په يو ناپاک ځای کې وغورزول شي. ۴۱ له هغې وروسته بايد کاهن ټول دننني دېوالونه په يو چا باندې وتوږي او خاوره دې د ښار څخه دباندې په يو ناپاکه ځای کې وغورزوي. ۴۲ بيا دې د هغو تيږو په ځای چې لېرې کړای شوې دي د نورو تيږو څخه کار واخيستل شي او دېوالونو ته دې نوی اخيړ ورکړای شي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۳ که چېرې د دېوالونو د تیږو د لېرې کولو، توږلو او اخېړولو نه پس بیا په هغه کور کې چڼاسکه
راښکاره شي ۴۴ نو کاهن دې لاړ شي او هغه دې بیا معاینه کړي. که چېرې په کور کې چڼاسکه
خپره شوې وي، نو دا یوه خرابوونکې چڼاسکه ده او دا کور ناپاک دی. ۴۵ هغه کور باید وران
شي او د هغه تیږې، تیرونه او ټوله خاوره باید د ښار څخه دباندې یو ناپاکه ځای ته یوړل شي.
۴۶ په هغه دوران کې چې کاهن هغه کور بند اعلان کړی وي نو هرڅوک چې هغه ته ننوزي، هغه
به تر ماښامه پورې ناپاک وي. ۴۷ همدارنګه هرڅوک چې په هغه کور کې خوب کوي یا خوراک
کوي باید خپل کالي ومینځي.

۴۸ مګر که چېرې کاهن راشي او هغه معاینه کړي، نو که د کور د اخېړولو څخه وروسته چڼاسکه
خپره شوې نه وي نو هغه به کور پاک اعلان کړي، ځکه چې چڼاسکه ورکه شوې ده. ۴۹ هغه دې
د کور د پاکولو دپاره دوه مرغۍ، د صبر لرګی، سور تار او د وېلني بوټی راواخلي. ۵۰ هغه به له
دغو مرغیو څخه یوه د خټو د لوښي دپاسه چې د چینې تازه اوبه په کې وي حلاله کړي. ۵۱ بیا
دې د صبر لرګی، د وېلني بوټی، سور تار او ژوندۍ مرغۍ راواخلي او هغه دې د مړې مرغۍ په
وینه او تازه اوبو کې غوټه کړي او په کور باندې دې اووه ځلې وشیندي. ۵۲ په دې ډول به کاهن
هغه کور د مرغۍ په وینه، تازه اوبو، ژوندۍ مرغۍ، د صبر په لرګي، د وېلني په بوټي او سور تار
باندې پاک کړي. ۵۳ بیا دې هغه ژوندۍ مرغۍ د ښار څخه دباندې په صحرا کې خوشې کړي. په
دې ډول به هغه د کور دپاره د پاکوالي مراسم سرته ورسوي او هغه به پاک شي.>

۵۴ دا مقررات د پوستکي د هرې ساري ناروغۍ دپاره دي لکه خارښت، ۵۵-۵۶ زخمونه،
داني یا پړسوب او همدارنګه په کالیو یا په کور کې چڼاسکه. ۵۷ د دې مقرراتو له مخې دا فیصله
کېدای شي چې یو شی په کوم وخت کې پاک دی او په کوم وخت کې ناپاک.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په جنسي لحاظ د بدن ناپاکي

۱۵ ۱ خښتن حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته وفرمايل: ۲ <د اسراييليانو سره
خبرې وکړئ او ورته ووايئ: کله چې د يو سړي د تناسلي آلې څخه زوه راووزي، هغه زوه ناپاکه
ده. ۳ که دا زوه د هغه د تناسلي آلې څخه رابهيږي يا دا بهيدل د التهاب په سبب بند شوي وي،
هغه به ناپاک کړي. ۴ که داسې سړی چې زوه ورڅخه راوزي، که هغه په هرې بسترې باندې
څملي او يا په هر شي باندې کښيني هغه شی به ناپاک شي. ۵ هرڅوک چې د هغه د بسترې
سره ولګيږي، ۶ يا په هغه شي باندې کښيني چې هغه سړی ورباندې ناست ؤ، نو هغه نفر بايد
خپل کالي ومينځي او غسل دې وکړي، خو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک پاتې شي. ۷ هرڅوک
چې د هغه سړي سره ولګيږي بايد خپل کالي ومينځي او غسل دې وکړي، خو هغه به تر ماښامه
پورې ناپاک پاتې شي. ۸ که چېرې هغه نفر چې زوه ورڅخه راوزي په داسې يو نفر باندې چې
هغه پاک وي لياړې واچوي، هغه سړی بايد خپل کالي ومينځي او غسل دې وکړي، خو هغه به تر
ماښامه پورې ناپاک پاتې شي. ۹ که دا سړی په کوم زين باندې کښيني، هغه به ناپاک شي ۱۰
او هرڅوک چې د هغه شي سره ولګيږي چې دا سړی ورباندې ناست ؤ، هغه به تر ماښامه پورې
ناپاک وي. هرڅوک چې داسې شيان راپورته کړي هغه بايد خپل کالي ومينځي او غسل دې وکړي،
خو تر ماښامه پورې به ناپاک پاتې شي. ۱۱ که چېرې يو سړی چې زوه ورڅخه راووزي او خپل
لاسونه يې نه وي مينځلي، په کوم بل نفر باندې ولګيږي، هغه څوک چې دی ورسره لګېدلی دی
بايد خپل کالي ومينځي او غسل دې وکړي، خو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک پاتې شي. ۱۲ که
هغه سړی چې زوه ورڅخه راوزي د خټو هر لوښي ته لاس وروړي، هغه بايد مات شي او که د
لرګي کوم لوښي ته لاس وروړي، هغه بايد ومينځل شي.

۱۳ له هغې وروسته چې د زوې د راوتلو څخه د دغه سړي علاج وشي، هغه بايد اووه ورځې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صبر وکړي او بیا دې د چینې په تازه اوبو کې خپل کالي ومینځي او غسل دې وکړي نو هغه به پاک
شي. ۱۴ هغه باید په اتمه ورځ دوه کوترې یا دوه قمري ګانې واخلي او د څښتن حضور ته دې د
مقدسې خېمې د دروازې خولې ته راشي او هغه دې کاهن ته ورکړي. ۱۵ کاهن دې هغه قرباني
کړي، یوه د ګناه د نذرانې دپاره او بله د سوزېدونکې نذرانې دپاره. په دې ډول به کاهن د څښتن په
حضور کې د هغه سړي دپاره د هغه د زوې د راوتلو له کبله کفاره ادا کړي.

۱۶ کله چې له یو سړي څخه مني راووزي، هغه باید خپل ټول ځان ومینځي، خو هغه به تر
مابنامه پورې ناپاک پاتې شي. ۱۷ هر هغه شی چې د ټوکر یا څرمنې څخه جوړ شوی وي او
مني وربا‌ندې لوېدلې وي باید ومینځل شي، خو هغه به تر مابنامه پورې ناپاک پاتې شي. ۱۸
سړی او ښځه دواړه باید د یوځای کېدلو څخه وروسته غسل وکړي، خو تر مابنامه پورې به ناپاک
پاتې شي.

۱۹ کله چې یوه ښځه میاشتینۍ ناروغي ولري، هغه اووه ورځې ناپاکه پاتې کیږي. هرڅوک چې
دې ښځې ته لاس وروړي، هغه به تر مابنامه پورې ناپاک وي. ۲۰ که هغه د خپلې میاشتینۍ
ناروغۍ په وخت کې په هر شي باندې کښېني یا وربا‌ندې څملي هغه شی به ناپاک شي. ۲۱-۲۳
هرڅوک چې د هغې د بسترې یا هر هغه شي سره چې هغه وربا‌ندې ناسته وي ولګیږي، باید خپل
کالي ومینځي او غسل دې وکړي، خو هغه به تر مابنامه پورې ناپاک پاتې شي. ۲۴ که چېرې یو
سړی د هغې ښځې سره په هغه وخت کې یوځای شي کله چې د هغې میاشتینۍ ناروغي پیل کیږي،
هغه سړی به اووه ورځې ناپاک وي. په هرې بسترې باندې چې هغه څملي هغه بستره به ناپاکه شي.

۲۵ که چېرې د یوې ښځې څخه د میاشتینۍ ناروغۍ پرته د ډېرو ورځو دپاره وینه بهیږي یا
برسېره پر عادي میاشتینۍ ناروغۍ دا وینه بهیږي، ترڅو پورې چې دا وینه بهیږي هغه ښځه د
میاشتینۍ ناروغۍ په شان ناپاکه پاتې کیږي. ۲۶ په دې موده کې که چېرې هغه په هره بستره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې خملي او يا په هر شي باندې چې کېښېني هغه به ناپاک شي. ٢٧ هرڅوک چې دغو شيانو
ته لاس وروړي هغه به ناپاک شي. هغه بايد خپل کالي ومينځي او غسل دې وکړي، خو تر ماښامه
پورې به ناپاک پاتې شي. ٢٨ وروسته له دې چې د هغې وينه ودرېږي، بايد اووه ورځې صبر
وکړي نو بيا به هغه پاکه شي. ٢٩ په اتمه ورځ بايد هغه ښځه دوه کوترې يا دوه قمري ګانې
واخلي او هغه دې د مقدسې خېمې د دروازې په خوله کې کاهن ته راوړي. ٣٠ کاهن دې يوه د
ګناه د نذرانې دپاره او بله د سوزېدونکې نذرانې دپاره قرباني کړي. په دې ډول به هغه د څښتن په
حضور کې د هغې ښځې دپاره د هغې د وينې د بهېدلو د ناپاکۍ په خاطر کفاره ادا کړي.

٣١ کله چې ستاسو څخه کوم يو ناپاک وي، بايد د اسراييلو د قوم څخه لېرې واوسېږي. که نه، نو
زما مقدسه خېمه به چې د کمپ په منځ کې ده ناپاکه شي او ټول قوم به مړ شي.>

٣٢-٣٣ دا مقررات د هغه سړي په باره کې دي چې د هغه څخه زوه يا مني راوزي او د هغې
ښځې په باره کې چې د مياشتينۍ ناروغۍ په دوران کې وي او يا د هغه سړي په باره کې چې د
يوې ناپاکې ښځې سره يوځای شي.

## د کفارې ورځ

**١٦** ١ د حضرت هارون د دوو زامنو د مړينې څخه وروسته چې څښتن ته ورنژدې شول او
مړه شول، څښتن د حضرت موسیٰ سره خبرې وکړې. ٢ هغه وفرمايل: <خپل ورور هارون ته
ووايه چې يوازې په يو مناسب وخت کې دې ډېر مقدس ځای ته چې د پردې شاته دی ورننوزي،
ځکه دا هغه ځای دی چې زه په کې په ورېځو کې د لوظ د صندوق د سرپوښ دپاسه راښکاره
کېږم. که هغه سرغړونه وکړي نو وبه وژل شي. ٣ کله چې هارون د ګناه د نذرانې دپاره يو ځوان
غويی او د سوزېدونکې نذرانې دپاره يو پسه راوړي، بيا هغه کولی شي چې ډېر مقدس ځای ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورننوزي.>

۴ بیا څښتن دا لارښودنې وکړې: <مخکې له دې چې هارون ډېر مقدس ځای ته ننوزي، هغه
باید غسل وکړي او د کاهنتوب دغه مقدس لباس دې واغوندي: د کتان کمیس، نیکرونه، پټۍ او
لونګۍ. ۵ د اسراییلو قوم دې هارون ته دوه وزان د ګناه د نذرانې دپاره او یو پسه د سوزېدونکې
نذرانې دپاره ورکړي. ۶ هارون دې یو غویی د خپلې ګناه د نذرانې دپاره وړاندې کړي چې د
خپل ځان او خپلې کورنۍ دپاره کفاره ادا کړي. ۷ بیا دې هغه دوه وزان واخلي او د مقدسې
خیمې د دروازې په خوله کې دې د څښتن په حضور کې وړاندې کړي. ۸ هغه دې د دوو وزانو
دپاره پچه واچوي او د دوه تیرو څخه دې کار واخلي، په یوه باندې دې د څښتن دپاره نښه وکړي
او په بلې باندې دې د عزازیل دپاره. ۹ هارون به هغه وز قرباني کړي چې د څښتن دپاره د
پچې په وسیله انتخاب شوی وي او هغه به د ګناه د نذرانې په توګه قرباني کړي. ۱۰ کوم وز چې
د عزازیل دپاره انتخاب شوی ؤ هغه به څښتن ته ژوندی وړاندې شي او په دښته کې به عزازیل ته
ورولېږل شي، د دې په خاطر چې د قوم د ګناهونو دپاره کفاره ادا کړي.

۱۱ کله چې هارون یو غویی د خپلې ګناه د نذرانې دپاره حلال کړي چې د خپل ځان او خپلې
کورنۍ دپاره کفاره ادا کړي، ۱۲ نو هغه به د قربانۍ د ځای څخه د اور یو لوښی چې د لګول
شویو سکارو څخه ډک وي او دوه موټې ښه مېده شوې خوشبویي راواخلي او هغه دې ډېر مقدس
ځای ته راوړي. ۱۳ هغه به هلته د څښتن په حضور کې خوشبویي په اور باندې واچوي او د
خوشبویۍ لوګی به د لوظ د صندوق سرپوښ پټ کړي ترڅو هارون هغه ونه ویني او مړ نه شي.
۱۴ د غویي لږه وینه به واخلي او په خپلې ګوتې باندې به یې د سرپوښ مخکینۍ برخې ته
وشیندي او بیا به د هغې څخه لږه د لوظ د صندوق مخې ته اووه ځلې وشیندي.

۱۵ بیا به هارون د ګناه د نذرانې وز د قوم په خاطر حلال کړي او د هغه وینه به ډېر مقدس ځای

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته یوسي او هماغسې کار به ورسره وکړي چې د غويي په وینه باندې يې کړی ؤ. هغه به د لوظ د
صندوق په سرپوښ او د صندوق مخې ته وشيندي. ۱۶ په دې ډول به هغه د پاکولو مراسم سرته
ورسوي چې ډېر مقدس ځای د اسراییلو د قوم د ناپاکۍ او د هغوی د ټولو ګناهونو څخه پاک کړي.
هغه دې دا کار د مقدسې خېمې دپاره هم وکړي، ځکه چې هغه د کمپ په منځ کې ولاړه ده او کمپ
په مذهبي لحاظ ناپاک دی. ۱۷ له هغه وخت څخه چې هارون ډېر مقدس ځای ته د کفارې د ادا
کولو دپاره ننوزي، د هغه د راوتلو پورې باید هیڅوک په خېمه کې نه وي. کله چې هغه د خپل
ځان، خپلې کورنۍ او ټول قوم دپاره کفاره ادا کوي ۱۸ نو باید بیا د نذرانو د سوزولو دپاره د
قربانۍ ځای ته لاړ شي او هغه پاک کړي. هغه باید د غويي او د وز لږه وینه واخلي او د قربانګاه په
برجونو باندې دې وسولوي. ۱۹ هغه باید په خپله ګوته لږه وینه واخلي او په قربانګاه باندې دې
اووه ځلې وشيندي. په دې ډول دې هغه د اسراییلو د قوم د ناپاکۍ څخه پاکه او مقدسه کړي.

## د ګناهونو د لېږې کولو وز

۲۰ کله چې هارون ډېر مقدس ځای، د مقدسې خېمې پاتې برخې او د قربانۍ د ځای د پاکولو
مراسم سرته ورسوي، هغه به هغه ژوندی وز څښتن ته وړاندې کوي چې د عزازیل دپاره انتخاب
شوی دی. ۲۱ هغه دې دواړه لاسونه د ژوندي وز په سر باندې کېږدي او په هغه باندې دې د
اسراییلو د قوم د ټولو بدکاریو، ګناهونو او سرکشیو اقرار وکړي او هغه دې د وز په سر باندې
واچوي. هغه به دا وز لېږې دښتې ته ولېږي او یو داسې سړي ته دې وسپاري چې د دې کار دپاره
ټاکل شوی وي. ۲۲ کله چې هغه سړی هغه وز په دښته کې خوشې کړي نو هغه وز به د هغوی
ټول ګناهونه د خپل ځان سره یو شاړ ځای ته یوسي.

۲۳ بیا دې هارون مقدسې خېمې ته ورننوزي او د کتان هغه لباس چې ډېر مقدس ځای ته د
ورننوتلو څخه مخکې یې اغوستی ؤ وباسي او هلته دې پرېږدي. ۲۴ هغه به په یو مقدس ځای

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې غسل وکړي او خپل عادي لباس به واغوندي. بیا به هغه دباندې راووزي او یوه سوزېدونکې
نذرانه به د ځان او یوه د قوم دپاره قرباني کړي، د دې په خاطر چې د خپل ځان او د هغوی دپاره
کفاره ادا کړي. ۲۵ همدارنګه هغه به په قربانګاه باندې د حیوان وازګه چې د ګناه د نذرانې دپاره
ده وسوزوي. ۲۶ هغه سړی چې وز یې په دښته کې عزازیل ته ورپرېښود، باید کمپ ته د بېرته
راتګ څخه مخکې خپل کالي ومینځي او غسل دې وکړي. ۲۷ هغه غويي او وز چې د ګناه د
نذرانو دپاره ورڅخه کار واخیستل شو او د هغو وینه د کفارې د ادا کولو دپاره ډېر مقدس ځای ته
راوړل شوه، باید د کمپ څخه دباندې یوړل شي. د هغو پوستکي، غوښه او خوشایي دې وسوزول
شي. ۲۸ کوم سړی چې هغه سوزوي باید خپل کالي ومینځي او غسل دې وکړي، له هغې وروسته
هغه کمپ ته ننوتلی شي.

## د کفارې د ورځې لمانځل

۲۹ په لاندینیو مقرراتو باندې دې د تل دپاره عمل وشي. د اوومې میاشتې په لسمه ورځ تاسو
ټول اسراییلیان او هغه بېګانه خلک چې ستاسو په منځ کې اوسېږي باید روژه ونیسئ او هیڅ کار
باید ونه کړئ، ۳۰ ځکه چې په دې ورځ به ستاسو د پاکولو دپاره کفاره ادا شي. بیا به تاسو د
څښتن په حضور کې د خپلو ټولو ګناهونو څخه پاک شئ. ۳۱ دا به د سبت په شان د ارام ورځ
وي، په دې ورځ باید تاسو روژه ونیسئ. په دغو مقرراتو باندې دې د تل دپاره عمل وشي. ۳۲
هغه کاهن چې مسح شوی وي او د خپل پلار په ځای د مشر کاهن په توګه ټاکل شوی وي، هغه
دې کفاره ادا کړي. هغه دې د کتان مقدس کالي واغوندي ۳۳ او دا مراسم دې سرته ورسوي د دې
په خاطر چې ډېر مقدس ځای، د مقدسې خېمې پاتې برخې او د قربانۍ ځای پاک کړي او د
کاهنانو او ټول قوم دپاره کفاره ادا کړي. ۳۴ د اسراییلیانو د ټولو ګناهونو دپاره دې په کال کې یو
ځل کفاره ادا شي. په دې مقرراتو باندې دې د تل دپاره عمل وشي.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو ښنګه چې ښښتن حضرت موسیٰ ته امر کړی ؤ، هماغسې وشول.

## د وينې خوړل حرام دي

۱۷ ۱ ښښتن په حضرت موسیٰ باندې امر وکړ، ۲ چې هارون او د هغه زامنو او د
اسراييلو ټول قوم ته لاندیني حکمونه ورکړي. ۳-۴ که د اسراييلو څخه يو څوک يو غويی يا
يو وری يا يوه وزه ښښتن ته د نذرانې په توګه د مقدسې خېمې د دروازې د خولې څخه پرته په بل
هرځای کې حلال کړي، هغه به شريعت مات کړی وي. هغوی وينه توی کړې ده او د خدای له قوم
څخه بايد وشړل شي. ۵ د دې حکم معنیٰ دا ده چې د اسراييلو خلک به له همدې وخت څخه
ښښتن ته هغه حيوانات راوړي چې په صحرا کې يې حلالول. هغوی بايد هغه کاهن ته د مقدسې
خېمې د دروازې خولې ته راولي او د سلامتۍ د نذرانو په توګه دې قرباني کړي. ۶ کاهن دې د
مقدسې خېمې د دروازې په خوله کې هغه وينه د ښښتن په قربانګاه باندې وشيندي او وازګه دې د
يو داسې بوی په توګه وسوزوي چې په ښښتن باندې ښه لګيږي. ۷ د اسراييلو قوم بايد نور په
صحرا کې د هغو پيريانو دپاره قرباني ونه کړي کوم چې د وزانو په شان ښکاري او په دې کار سره
دې د ښښتن سره بې وفايي نه کوي. د اسراييلو قوم بايد تل ترتله په دې حکم باندې عمل وکړي.

۸ که چېرې کوم اسراييلی يا بېګانه نفر چې د دوی په منځ کې اوسيږي سوزېدونکې نذرانه يا
کومه بله قرباني ۹ ښښتن ته د نذرانې په توګه د مقدسې خېمې د دروازې د خولې څخه بغير په
بل هرځای کې وړاندې کړي، د خدای د قوم څخه به وشړل شي.

۱۰ که چېرې کوم اسراييلی يا هغه بېګانه نفر چې د دوی په منځ کې اوسيږي کومه وينه وخوري،
ښښتن فرمايي چې د هغه په ضد به شي او د خپل قوم څخه به يې وشړي. ۱۱ د هر ژوندي شي
ژوند په وينه کې دی او ښښتن هغه د اسراييلو قوم ته ورکړې ده د دې په خاطر چې په قربانګاه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې د ځان دپاره کفاره ادا کړي. دا وينه ده چې د يو چا د ژوند دپاره کفاره ادا کوي. ۱۲ په دې
خاطر څښتن د اسراييلو قوم ته فرمايلي دي چې نه به دوی او نه به هغه بېګانه نفر چې د دوی په
منځ کې اوسيږي، وينه خوري.

۱۳ که چېرې کوم اسراييلی يا بېګانه نفر چې د دوی په منځ کې اوسيږي يو داسې حيوان يا مرغۍ
ښکار کړي چې هغه حلال وي، بايد د هغه وينه په ځمکه باندې توی کړي او په خاورو باندې دې
پټه کړي. ۱۴ د هر ژوندي شي ژوند په وينه کې دی، نو په دې خاطر څښتن د اسراييلو قوم ته
فرمايلي دي چې بايد د هيڅ يو ژوندي شي وينه ونه خوري. هرڅوک چې هغه وخوري بايد د
خدای د قوم څخه وشړل شي.

۱۵ هرڅوک، که هغه اسراييلی يا بېګانه وي د يو داسې حيوان غوښه وخوري چې په خپل مرګ
باندې مړ شوی وي يا د وحشي حيواناتو له خوا وژل شوی وي بايد خپل کالي ومينځي او غسل
دې وکړي. هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وي، بيا به پاک شي. ۱۶ مګر که چېرې هغه خپل کالي
ونه مينځي او غسل ونه کړي، نو د خپلو بدو سزا به ووينې.

## زنا او نور بد عملونه

**۱۸** ۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۲ <د اسراييلو د خلکو سره خبرې وکړه او
ورته ووايه چې زه ستاسو څښتن خدای يم. ۳ د مصر د خلکو په شان کار مه کوئ چېرته چې
يو وخت تاسو په کې اوسېدلئ، يا د کنعان د خلکو په شان کار مه کوئ چې زه اوس تاسو هلته
بيايم. ۴ تاسو بايد زما قوانينو ته غاړه کېږدئ او زما د فرمانونو په مطابق عمل وکړئ. زه ستاسو
څښتن خدای يم. ۵ زما په فرمانونو او قوانينو باندې عمل وکړئ، ځکه څوک چې هغو ته غاړه
کېږدي د هغو په وسيله به ژوند وکړي. زه څښتن يم.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۶) هیڅوک دې د خپلو نژدې خپلوانو سره زنا نه کوي. زه څښتن یم. (۷) د خپلې مور سره په
زنا کولو سره د خپل پلار سپکاوی مه کوئ. هغه ستاسو مور ده، د هغې سره زنا مه کوئ. (۸) د
خپل پلار د نورو ښځو سره په زنا کولو سره د خپل پلار سپکاوی مه کوئ. (۹) د خپلې سکه یا
ناسکه خور سره که هغه ستاسو د پلار لور وي یا د مور، که هغه ستاسو سره په یو کور کې زېږېدلې
وي یا په بل ځای کې، د هغې سره زنا مه کوئ. (۱۰) د خپلې لمسۍ سره زنا مه کوئ، هغه به
ستاسو دپاره سپکاوی وي. (۱۱) د یوې ناسکه خور سره زنا مه کوئ، هغه هم ستاسو خور ده. (۱۲)
د خپل پلار د خور سره زنا مه کوئ، هغه ستاسو د پلار نژدې خپلوانه ده. (۱۳) د خپلې مور د خور
سره زنا مه کوئ، ځکه چې هغه ستاسو د مور نژدې خپلوانه ده. (۱۴) د خپل تره د ښځې سره په
زنا کولو سره د خپل تره سپکاوی مه کوئ، هغه هم ستاسو نژدې خپلوانه ده. (۱۵) د خپلې نږور
سره زنا مه کوئ. هغه ستاسو د زوی ښځه ده. (۱۶) د خپلې ورېندار سره زنا مه کوئ، دا به ستاسو
د ورور دپاره سپکاوی وي. (۱۷) که تاسو د یوې ښځې سره څملئ نو د هغې د لور یا د هغې د
لمسۍ سره زنا مه کوئ. ځکه چې هغوی د هغې نژدې خپلوان دي. دا ډېر بد کار دی. (۱۸) ترڅو
پورې چې ستاسو ښځې ژوندۍ وي، د خپلو ښینو سره د دوهمې ښځې په توګه واده مه کوئ او د
هغوی سره زنا مه کوئ.

(۱۹) د یوې ښځې سره د هغې د میاشتینۍ ناروغۍ په دوران کې مه یوځای کېږئ، ځکه چې هغه
ناپاکه ده. (۲۰) د بل سړي د ښځې سره زنا مه کوئ او په هغې باندې خپل ځان مه ناپاکه کوئ.
(۲۱) د خپلو ماشومانو څخه هیڅ یو ماشوم مه ورکوئ چې د مولک د بت دپاره قرباني شي. زه
ستاسو څښتن خدای یم او په دې کار به زما سپکاوی وشي. (۲۲) هیڅ یو سړی دې د بل سړي
سره بد کار نه کوي، له دې څخه خدای کرکه کوي. (۲۳) د یو حیوان سره جنسي اړیکې مه ساتئ
او په دې ډول په دې کار خپل ځان مه ناپاکه کوئ. یوه ښځه باید یو حیوان ته د جنسي اړیکو په
خاطر خپل ځان وړاندې نه کړي، دا ډېر بد کار دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ په دې عملونو باندې خپل ځانونه مه ناپاکه کوئ، ځکه چې نورو قومونو په دې ډول خپل
ځانونه ناپاکه کړل. دا هغه قومونه دي چې په دې خاوره کې اوسېږي او ښبنتن يې د دې په خاطر
وباسي ترڅو تاسو وکولی شئ چې هغې خاورې ته ورننوزئ. ۲۵ د هغوی عملونو هغه خاوره
ناپاکه کړې ده، نو ښبنتن هغې خاورې ته سزا ورکوي او هغه مجبوروي چې خپل اوسېدونکي
وشړي. ۲۶-۲۷ هغوی دا ټول بد کارونه وکړل او هغه خاوره يې ناپاکه کړه، خو تاسو بايد داسې
ونه کړئ. تاسو ټول که هغه اسراييليان وي يا هغه بېګانه خلک چې ستاسو سره اوسېږي د ښبنتن په
قوانينو او حکمونو باندې عمل کوئ. ۲۸ که چېرې تاسو دا ځمکه ناپاکه کړئ، نو هغه به تاسو
ايسته وغورزوي لکه څنګه چې ستاسو څخه مخکې قومونه يې غورزولي وو. ۲۹ نو هرڅوک
چې د داسې کارونو څخه چې د کرکې وړ دي کوم کار وکړي، د خدای له قوم څخه به وشړل
شي.>

۳۰ ښبنتن وفرمايل: <زما امرونو ته غاړه کېږدئ او د هغو ناوړه رواجونو څخه پيروي مه کوئ
کوم چې ستاسو د راتګ څخه مخکې به کېدل او په هغو باندې خپل ځانونه مه ناپاکه کوئ. زه
ستاسو ښبنتن خدای يم.>

## اخلاقي او مذهبي قوانين

**۱۹** ۱ ښبنتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۲ <د اسراييلو د ټول قوم سره خبرې وکړه او
ورته ووايه: مقدس اوسئ ځکه چې زه ستاسو ښبنتن خدای مقدس يم. ۳ تاسو هر يو بايد د
خپل مور او پلار احترام وکړئ او بايد د سبت د ورځې څخه پيروي وکړئ. زه ستاسو ښبنتن خدای
يم.

۴ ما مه پرېږدئ او د بتانو عبادت مه کوئ. د فلزاتو څخه خدايان مه جوړوئ او عبادت يې مه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوئ. زه ستاسو څښتن خدای یم.

۵ کله چې تاسو د سلامتۍ د نذرانې دپاره څښتن ته یو حیوان قرباني کوئ، هغه په یوې داسې
طریقې سره قرباني کړئ چې ستاسو په خاطر قبول شي. ۶ غوښه باید په هماغه ورځ چې
قرباني کوئ وخورئ یا په راتلونکې ورځ. هرڅه چې د دریمې ورځې پورې پاتې شي باید
وسوزول شي. ۷ که چېرې له هغې څخه لږه په دریمه ورځ وخوړل شي، هغه ناپاکه ده او دا
نذرانه به قبوله نه شي. ۸ هرڅوک چې هغه وخوري، هغه به ګناهکار وي ځکه چې هغه څه چې
څښتن ته مقدس دي، هغه یې عادي ګڼلي دي. هغه نفر باید د خدای له قوم څخه وشړل شي.

۹ کله چې تاسو د خپلې ځمکې حاصلات لو کوئ، نو هغه د پټي تر غاړو پورې مه لو کوئ او
هغه وږي چې د لو څخه پاتې شوي وي هغه مه راټولوئ. ۱۰ خپل د انګورو باغ ته دوهم ځل مه
ورځئ او هغه انګور مه راټولوئ چې رالوېدلي وي. هغه غریبانو او بېګانه خلکو ته پرېږدئ. زه
ستاسو څښتن خدای یم.

۱۱ غلا مه کوئ. یو بل ته درواغ مه وایئ او یو بل مه غولوئ. ۱۲ زما په نوم په درواغو قسم
مه خورئ او په دې ډول د خپل خدای نوم مه سپکوئ. زه ستاسو څښتن خدای یم.

۱۳ څوک مه لوټوئ او د چا څخه ګټه مه اخلئ. د یو مزدور اجوره حتیٰ د یوې شپې دپاره هم
مه ځنډوئ. ۱۴ کڼو خلکو ته ښکنځلې مه کوئ او د ړندو په مخ کې داسې شی مه ږدئ چې
هغوی ورباندې تیندک وخوري، مګر زما څخهووېرېږئ. زه ستاسو څښتن خدای یم.

۱۵ عدالت تر پښو لاندې کوئ مه. د غریب پلوي مه کوئ او د لویانو خاطر مه کوئ، مګر د نورو
سره په انصاف قضاوت وکړئ. ۱۶ د هیچا په باره کې درواغ مه خپروئ او کله چې یو نفر په
محکمه کې په مرګ باندې محکوم وي نو ښکاره خبرې وکړئ، کېدای شي چې ستاسو شاهدي د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه سره مرسته وکړي. زه څښتن يم.

۱۷ د خپل ورور سره په خپل زړه کې کينه مه ساتئ. هغه په ښکاره د خپلې ګناه په خاطر ورټيء
ترڅو د هغه په ګناه کې شريک نه شئ. ۱۸ د خپلو خلکو څخه د بدل اخيستلو پسې مه ګرځئ. د
هغوی څخه کرکه مه کوئ، خو د نورو سره د خپل ځان په شان مينه کوئ. زه څښتن يم.

۱۹ زما د فرمانونو څخه پيروي وکړئ. غير همجنس کورني حيوانات د نسل دپاره سره مه يوځای
کوئ. په خپل پټي کې دوه قسمه تخمونه مه کرئ. داسې کالي مه اغوندئ چې له دوو مختلفو
جنسونو څخه جوړ شوي وي.

۲۰ که چېرې يو نفر د يوې داسې غلامې سره چې هغه د بل نفر سره کوژدن شوې وي زنا وکړي،
که څه هم هغه بل نفر د هغې د ازادېدلو په خاطر پيسې نه وي ورکړې، نو بايد هغې غلامې او هغه
نفر ته چې د هغې سره يې زنا کړې وه سزا ورکړل شي. خو هغوی دې ونه وژل شي ځکه چې هغه
ازاده شوې نه ده. ۲۱ هغه سړی به د تاوان د نذرانې په توګه يو پسه د مقدسې خېمې د دروازې په
خوله کې څښتن ته راوړي. ۲۲ په هغه باندې به کاهن د څښتن په حضور کې د هغه د ګناه په
خاطر کفاره ادا کړي او د هغه ګناه به وبخښل شي.

۲۳ کله چې تاسو د کنعان خاورې ته ورننوزئ او د مېوې يوه ونه وکرئ، هغه مېوه د اولنيو دريو
کلونو دپاره حرامه وګڼئ. په دې موده کې تاسو بايد هغه مېوه ونه خورئ. ۲۴ په څلورم کال به
هغه ټوله مېوه ما يعنې څښتن ته د شکرګزارۍ په خاطر وقف شي. ۲۵ خو په پنځم کال به هغه
مېوه تاسو ته حلاله وي. که چېرې تاسو دا ټول کارونه وکړئ، ستاسو ونې به زياته مېوه ونيسي. زه
ستاسو څښتن خدای يم.

۲۶ داسې غوښه مه خورئ چې وينه په کې وي. فال مه ګورئ او کوډې مه کوئ. ۲۷ د خپلو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شقیقو ویښتان مه خرایئ او ږیره مه لنډوئ. ۲۸ د مړي په غم کې خپل بدنونه مه غوڅوئ او
خالونه ورباندې مه جوړوئ. زه څښتن یم.

۲۹ د خپلو لورګانو څخه فاحشې مه جوړوئ او هغوی مه شرموئ. که داسې وکړئ، نو دا خاوره
به په فاحشی بدله شي او له بدکارۍ څخه به ډکه شي. ۳۰ د سبت د ورځې څخه پیروي وکړئ او
د هغه ځای احترام وکړئ چې زما عبادت په کې کیږي. زه څښتن یم.

۳۱ هغو خلکو ته مه ورځئ چې هغوی دعوه کوي چې دوی کولی شي چې د مړو سره خبرې
وکړي. همدارنګه د فال کتونکو پسې مه ګرځئ، ځکه چې د هغوی په وسیله به تاسو ناپاک شئ. زه
ستاسو څښتن خدای یم.

۳۲ د سپین ږیرو په مخ کې پاڅیږئ، د مشرانو احترام کوئ او زما څخه وېرېږئ. زه څښتن یم.

۳۳ د هغو بېګانه خلکو سره بده رویه مه کوئ چې ستاسو په خاوره کې اوسیږي. ۳۴ د هغوی
سره د یو اسراییلي په شان رویه وکړئ او د خپلو ځانونو په شان ورسره مینه وکړئ. دا یاد ساتئ
چې تاسو هم یو وخت د مصر په خاوره کې بېګانه وئ. زه ستاسو څښتن خدای یم.

۳۵ کله چې تاسو یو شی اندازه کوئ یا هغه وزن کوئ نو غلطي په کې مه کوئ او هیڅوک مه
غولوئ. ۳۶ د صحیح تلو، صحیح وزنونو او صحیح اندازو څخه کار اخلئ. زه ستاسو څښتن
خدای یم او ما تاسو د مصر څخه راوویستلئ.

۳۷ زما د ټولو فرمانونو او قوانینو څخه پیروي کوئ. زه څښتن یم.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د سرغړوني دپاره سزا

٢٠ ① خښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ② <اسراییلیانو ته ووایه: که ستاسو څخه یو
څوک یا کوم بېګانه نفر چې په اسراییلو کې اوسېږي د خپلو ماشومانو څخه کوم ماشوم د مولک بت
ته ورکړي، هغه باید ووژل شي. د قوم خلک دې هغه سنګسار کړي. ③ زه به د هغه نفر په ضد
شم او د خپل قوم څخه به یې وشړم، ځکه چې مولک ته د خپلو ماشومانو په ورکولو سره یې زما
مقدس ځای ناپاک کړی او زما مقدس نوم یې رسوا کړی دی. ④ کله چې هغه نفر داسې کار
وکړي او قوم ورباندې خپلې سترګې پټې کړي او هغه نفر ونه وژني، ⑤ نو زه به په خپله د هغه
نفر، د هغه د ټولې کورنۍ او هغو ټولو په ضد شم چې د هغه سره یوځای زما سره بې وفایي کوي او
د مولک عبادت کوي. زه به هغوی د خپل قوم څخه وشړم.

⑥ که چېرې تاسو هغو خلکو ته ورشئ چې دا دعوه کوي چې دوی کولی شي د مړو سره خبرې
وکړي، نو زه به ستاسو په ضد شم او تاسې به د خپل قوم څخه وشړم. ⑦ خپل ځانونه وقف کړئ
او مقدس اوسئ، ځکه چې زه ستاسو خښتن خدای یم. ⑧ زما د فرمانونو څخه پیروي وکړئ. زه
خښتن یم چې تاسو مقدس کوم.

⑨ که چېرې یو څوک خپل پلار یا خپلې مور ته ښکنځلې وکړي نو هغه باید ووژل شي. خون به
یې په خپله غاړه وي.

⑩ که چېرې یو سړی د بل سړي د ښځې سره زنا وکړي، هغه سړی او هغه ښځه دواړه باید
ووژل شي. ⑪ که چېرې یو سړی د خپل پلار له ښځو څخه د یوې ښځې سره زنا وکړي هغه
خپل پلار سپکوي نو هغه سړی او ښځه دواړه باید ووژل شي. خون به یې په خپله غاړه وي. ⑫
که چېرې یو سړی د خپلې نږور سره زنا وکړي، هغوی دواړه باید ووژل شي. کوم کار چې هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړی دی هغه ډېر بد کار دی او خون به يې په خپله غاړه وي. ۱۳ که چېرې يو سړی د يو بل
سړي سره بد کار وکړي، هغوی د کرکې وړ کار کړی دی او دواړه بايد ووژل شي. خون به يې په
خپله غاړه وي. ۱۴ که چېرې يو سړی د يوې نجلۍ او د هغې د مور دواړو سره واده وکړي نو
درې واړه بايد د خپل ډېر بد کار له کبله وسوزول شي چې مړه شي، ترڅو ستاسو په منځ کې
بدکاري نه وي. ۱۵ که چېرې يو سړی د يو حيوان سره جنسي اړيکې ولري، هغه بايد د حيوان
سره يوځای ووژل شي. ۱۶ که چېرې يوه ښځه د يو حيوان سره د جنسي اړيکو د لرلو هڅه
وکړي، هغه بايد د حيوان سره يوځای ووژل شي. خون به يې په خپله غاړه وي.

۱۷ که چېرې يو سړی د خپلې سکه يا ناسکه خور سره واده وکړي، دا يوه رسوايي ده. هغوی
بايد په عام محضر کې د قوم څخه وشړل شي. هغه د خپلې خور سپکاوی کړی دی او مسئوليت به
يې په خپله غاړه وي. ۱۸ که چېرې يو سړی د يوې ښځې سره د مياشتينۍ ناروغۍ په دوران کې
يوځای شي، هغوی دواړه دې د قوم څخه وشړل شي، ځکه چې هغوی د پاکوالي په اړه مقررات
مات کړي دي.

۱۹ د خپلې مور د خور يا د خپل پلار د خور سره زنا مه کوئ، ځکه چې دا کار به د يو نژدې
خپلوان سپکاوی وي، د دغه ناوړه کار مسئوليت به ستاسو دواړو په غاړه وي. ۲۰ که چېرې يو
سړی د خپل تره د ښځې سره زنا کوي هغه خپل تره سپکوي. مسئوليت به د هغوی په غاړه وي،
هغوی به بې اولاده پاتې شي. ۲۱ که چېرې يو سړی د خپلې ورېندار سره واده وکړي، هغوی به
بې اولاده وي. هغه يو ناپاکه کار کړی او د خپل ورور سپکاوی يې کړی دی.>

۲۲ څښتن وفرمايل: <زما د ټولو فرمانونو او قوانينو څخه پيروي وکړئ، ترڅو تاسو د کنعان د
ځمکې څخه چې هلته مو راولم ونه شړم. ۲۳ د هغو خلکو د رواجونو څخه پيروي مه کوئ چې
هلته اوسيږي او زه يې د دې په خاطر شړم ترڅو تاسو وکولی شئ هغې خاورې ته ورننوزئ. زه د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی څخه د هغوی د ټولو بدو عملونو له کبله کرکه کوم. ۲۴ مګر ستاسو سره مې د دې غني او
حاصلخېزې ځمکې وعده کړې ده ترڅو هغه ستاسو ملکيت شي او هغه به تاسو ته درکوم. زه
ستاسو څښتن خدای يم او تاسو مې د نورو قومونو څخه جدا کړي يئ. ۲۵ له دې کبله تاسو بايد
د پاکو او ناپاکو حيواناتو او مرغانو ترمنځ ښکاره فرق وکړئ. هغه حيوانات يا مرغان چې هغه مې
ناپاک اعلان کړي دي مه خورئ. د هغو په خوړلو به ناپاک شئ. ۲۶ تاسو به مقدس شئ او
يوازې زما به شئ، ځکه چې زه څښتن مقدس يم. ما تاسو له نورو قومونو څخه جدا کړي يئ ترڅو
يوازې زما شئ.

۲۷ هر سړی يا هره ښځه چې دا دعوه کوي چې د مړو سره مشورې کوي، بايد ووژل شي. تاسو
بايد هغه سنګسار کړئ، خون به يې په خپله غاړه وي.>

## د کاهنانو مقدس توب

۲۱ ۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: <د کاهنانو يعنې د هارون د زامنو سره خبرې
وکړه او ورته ووايه: هيڅ يو کاهن بايد د خپلوانو د مړي د جنازې په مراسمو کې په ګډون کولو سره
خپل ځان ناپاک نه کړي، ۲ پرته له يو نژدې خپلوان څخه لکه د هغه مور يا پلار، د هغه زوی يا
لور، د هغه سکه ورور، ۳ يا يوه پېغله خور چې واده شوې نه وي او مېړه نه لري چې هغه
وساتي. ۴ هغه به خپل ځان د هغه چا په مرګ باندې نه ناپاکه کوي کوم چې د واده په وسيله د
هغه خپلوان شوی وي.

۵ هيڅ کاهن به په دې خاطر چې هغه داسې ښکاره شي چې د چا په مرګ باندې غمجن دی، نه
به د خپل سر کومه برخه خرايي، نه به خپله ږيره لنډوي او نه به خپل بدن غوخوي. ۶ هغه بايد
مقدس وي او زما نوم سپک نه کړي، ځکه چې هغه ماته په اور باندې د خواړو نذرانې تياروي او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باید مقدس وي. (۷) یو کاهن باید د یوې داسې ښځې سره واده ونه کړي چې هغه فاحشه وه یا
پېغله نه وي او یا د خپل مېړه له خوا ورته طلاق ورکړای شوی وي، ځکه چې هغه خپل خدای ته
مقدس دی. (۸) خلک باید کاهن مقدس وګڼي، ځکه چې هغه ماته د خواړو نذرانې وړاندې کوي.
زه څښتن یم، زه مقدس یم او خپل خلک مقدس کوم. (۹) که چېرې د یو کاهن لور فاحشه شي،
نو هغه خپل پلار رسوا کوي او باید وسوزول شي چې مړه شي.

(۱۰) مشر کاهن چې په سر باندې یې د مسح کولو تېل اچول شوي دي او د دې دپاره وقف شوی
دی چې د کاهنتوب لباس واغوندي، نو باید خپل ویښتان ګډوډ پرېنږدي او خپل کالي ونه شلوي
چې داسې ښکاره شي چې هغه د چا په مړګ باندې غمجن دی. (۱۱)-(۱۲) هغه ماته وقف شوی
دی. خپل ځان باید ناپاک نه کړي او نه دې زما د مقدسې خېمې څخه په وتلو او هغه کور ته په
ننوتلو سره چې مړی په کې وي دا خېمه ناپاکه کړي که څه هم هغه د ده د خپل پلار مړی وي یا د
مور. (۱۳) هغه باید د داسې ښځې سره واده وکړي چې پېغله وي. (۱۴) هغه باید د یوې کونډې یا
طلاق شوې یا د داسې ښځې سره واده ونه کړي چې هغه فاحشه وه، مګر یوازې د خپلې قبیلې
څخه د یوې پېغلې سره دې واده وکړي. (۱۵) که نه، نو د هغه اولادونه چې باید مقدس وي، هغوی
به ناپاک وي. زه څښتن یم او ما هغه د مشر کاهن په توګه انتخاب کړی دی.>

(۱۶) څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: (۱۷) <هارون ته ووایه چې ستا د اولادې څخه هیڅ یو
سړی چې جسماني عیبونه ولري نه شي کولی چې ماته د خواړو نذرانه وړاندې کړي. دا خبره به تل
ترتله عملي کېږي. (۱۸) هیڅ یو سړی چې جسماني عیبونه په کې وي نه شي کولی چې هغه نذرانه
وړاندې کړي لکه څوک چې ړوند وي، ګوډ وي، بدشکله یا بې ډوله وي، (۱۹) د چا لاس یا پښه
چې معیوبه وي، (۲۰) څوک په ملا باندې کړوپ وي یا ټیټ قدی وي، څوک چې د سترګې یا د
پوستکي په ناروغۍ اخته وي او څوک چې خصي وي. (۲۱) د هارون کاهن د اولادې څخه هیڅ یو
سړی چې کوم جسماني عیبونه په کې وي نه شي کولی چې ماته د خواړو یوه داسې نذرانه وړاندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړي چې په اور باندې تیاریږي. ۲۲ داسې سړی کولی شي چې هغه خواړه وخوري چې ماته
وړاندې شوي وي یعنې د خواړو مقدسه نذرانه او د خواړو ډېره مقدسه نذرانه. ۲۳ مګر په دې
خاطر چې په هغه کې جسماني عیب دی، هغه دې مقدسې پردې او د قربانۍ ځای ته نژدې رانه شي
او زما مقدس ځای او هرڅه چې په کې دي هغه دې نه ناپاکه کوي، ځکه چې زه څښتن یم او
کاهنان مقدس کوم.>

۲۴ نو حضرت موسیٰ دا هرڅه حضرت هارون او د هغه زامنو او ټولو اسراییلیانو ته وویل.

## د نذرانو مقدس توب

# ۲۲

۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۲ <هارون او د هغه زامنو ته ووایه چې د هغو
پاکو نذرانو احترام وکړي چې اسراییلیان یې ماته وقف کوي، ترڅو هغوی زما مقدس نوم سپک نه
کړي. زه څښتن یم. ۳ که چېرې ستاسو د اولادې څخه کوم یو د ناپاکۍ په حال کې هغو مقدسو
نذرانو ته ورنژدې شي چې د اسراییلو قوم ماته وقف کړې دي، هغه بیا هیڅکله د قربانۍ په ځای
کې خدمت نه شي کولی. دا خبره به تل ترتله عملي کیږي. زه څښتن یم.

۴ که چېرې د هارون د اولادې څخه کوم یو د پوستکي په ساري ناروغۍ اخته وي یا د بدن
څخه یې زوه راوزي، هغه تر هغه وخته پورې دا پاکې نذرانې نه شي خوړلی ترڅو پورې چې پاک
نه شي. هر کاهن چې داسې کوم شي ته لاس وروړي چې د مړي سره د لګېدلو په وسیله ناپاک
شوی وي یا که چېرې د کاهن څخه مني ووزي، ۵ یا که چېرې هغه په ناپاک حیوان یا ناپاک
نفر باندې لاس وهلی وي هغه ناپاک کیږي. ۶ هر کاهن چې دغو شیانو ته لاس وروړي هغه به
ناپاک شي، هغه تر مابنامه پورې ناپاک پاتې کیږي. بیاهم هغه پاکې نذرانې نه شي خوړلی ترڅو
پورې چې غسل ونه کړي. ۷ کله چې لمر پریوزي، هغه به پاک شي او د هغې څخه وروسته هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کولی شي چې پاکې نذرانې وخوري ځکه چې دا د هغه خواړه دي. ۸ هغه دې د داسې حیوان
غوښه ونه خوري چې په خپل مرګ مړ شوی وي یا د وحشي حیواناتو په وسیله وژل شوی وي، په
دې باندې به هغه ناپاک شي. زه څښتن یم.

۹ ټول کاهنان دې زما د مقرراتو څخه چې هغوی ته مې ورکړې دي پیروي وکړي. که نه، نو
هغوی به ګناهکاران او مړه شي، ځکه چې هغوی مقدسو مقرراتو ته په سپکه سترګه کتلي دي. زه
څښتن یم چې هغوی مقدس کوم.

۱۰ څوک چې د کاهن د کورنۍ غړی نه وي، هغه پاکې نذرانې نه شي خوړلی. د کاهن مېلمه یا
مزدور هم هغه نه شي خوړلی. ۱۱ خو که چېرې یو کاهن په خپلو پیسو باندې یو غلام اخیستی
وي یا که چېرې یو غلام د هغه په کورنۍ کې زېږېدلی وي، هغه غلام کولی شي چې د هغه خواړه
وخوري. ۱۲ که چېرې د یو کاهن لور د یو داسې سړي سره واده وکړي چې هغه کاهن نه وي،
هغه نه شي کولی چې پاکې نذرانې وخوري. ۱۳ مګر که چېرې د یو کاهن لور کونډه یا طلاقه
شوې وي او اولادونه ونلري او بېرته راشي او د خپل پلار په کور کې اوسېږي، هغه کولی شي چې
هغه خواړه وخوري چې د هغې پلار یې د کاهن په توګه ترلاسه کوي. په هر حال د کاهن د کورنۍ
د غړو څخه پرته هیڅوک نه شي کولی چې هغه وخوري.

۱۴ که چېرې داسې خلک چې د کاهن د کورنۍ غړي نه وي په غیر ارادي توګه پاکې نذرانې
وخوري، هغوی باید کاهن ته د اضافه شلو فیصدو سره پوره تاوان ورکړي. ۱۵-۱۶ کاهنان باید
نورو خلکو ته اجازه ورنه کړي چې د دې پاکو نذرانو په خوړلو سره چې د اسراییلو قوم یې زما
دپاره وقف کوي د هغو سپکاوی وکړي، ځکه چې په دې کار سره به هغوی ګناهکار وګڼل شي او
سزا به ومومي. زه څښتن یم او هغه نذرانې مقدسې کوم.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٧ خښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ١٨ <هارون او د هغه د زامنو او ټولو اسراييليانو سره
خبرې وکړه او ورته ووايه: که چېرې له تاسو څخه يو نفر که هغه يو اسراييلی يا يو داسې بېګانه نفر
وي چې په اسراييلو کې اوسيږي، ماته د سوزېدونکې نذرانې دپاره يو سوغات وړاندې کوي، که هغه
د نذر د ورکولو په توګه وي يا رضاکارانه نذرانه وي، ١٩ تاسو بايد د پادې يا رمې څخه يو نر
حيوان وړاندې کړئ چې کوم عيب په کې نه وي د دې دپاره چې هغه ستاسو په خاطر قبول شي.
٢٠ که چېرې تاسو يو داسې حيوان وړاندې کړئ چې کوم عيب په کې وي، زه خښتن به هغه
ستاسو په خاطر قبول نه کړم. ٢١ کله چې يو نفر خښتن ته د رمې او يا پادې څخه د سلامتۍ
نذرانه راوړي چې يو نذر ورکړي يا د رضاکارانه نذرانې په توګه وي، د دې دپاره چې د قبلېدلو وړ
وي نو په هغې کې بايد هيڅ عيب نه وي. ٢٢ خښتن ته داسې حيوان مه وړاندې کوئ چې ړوند،
ګوډ يا معيوب وي، زخم ولري او يا د پوستکي په دوامداره ناروغۍ اخته وي. هغه په قربانګاه باندې
د يوې داسې نذرانې په توګه مه ږدئ چې په اور باندې خښتن ته تيارېږي. ٢٣ که څه هم تاسو
کولی شئ چې د رضاکارانه نذرانې په توګه يو حيوان چې بې ډوله يا کوچنی وي وړاندې کړئ، مګر
هغه به د نذر په توګه قبول نه شي. ٢٤ خښتن ته هيڅ داسې حيوان مه وړاندې کوئ چې خصيه
يې ټکول شوې، پرېکړل شوې، زخمي شوې يا ويستل شوې وي. تاسو بايد په خپله خاوره کې
داسې کار ونه کړئ. ٢٥ تاسو بايد له بېګانه خلکو څخه داسې حيوانات وانخلئ چې د خواړو د
نذرانو په توګه يې وړاندې کړئ. هغه به ستاسو په خاطر قبول نه شي ځکه چې هغه بې ډوله دي يا
عيبونه په کې دي.>

٢٦ خښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ٢٧ <کله چې يو خوسکی، يو وری يا يوه وزه پيدا
شي، که هغه نر وي يا ښځه، د خپلې مور سره دې اووه ورځې پاتې شي. له اتمې ورځې څخه به
هغه د يوې داسې نذرانې په توګه د منلو وړ وي چې خښتن ته په اور باندې تيارېږي. ٢٨ يوه غوا
او د هغې خوسکی يا يوه مېږه او د هغې وری يا يوه وزه او د هغې بچی په يوه ورځ مه حلالوئ.
٢٩ کله چې تاسو خښتن ته د شکرانې يوه نذرانه قرباني کوئ نو د مقرراتو څخه پيروي وکړئ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترڅو هغه ستاسو په خاطر قبوله شي. ٣٠ هغه باید په هماغه ورځ وخوړل شي، له هغې څخه تر
سهاره پورې هیڅ شی مه پرېږدئ. زه څښتن یم.

٣١ زما د حکمونو څخه پیروي وکړئ. زه څښتن یم. ٣٢ زما مقدس نوم مه سپکوئ. د اسراییلو
ټول قوم باید د دې خبرې اقرار وکړي چې زه مقدس یم. زه څښتن یم چې تاسو مقدس کوم ٣٣
او تاسو مې د دې دپاره له مصر څخه راوویستلئ چې ستاسو خدای اوسم. زه څښتن یم.>

## مذهبي اخترونه

**٢٣** ١ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ٢ <د اسراییلو خلکو ته ووایه چې ما ستاسو
دپاره څو مذهبي اخترونه ټاکلي دي چې سره راغونډ شئ او زما عبادت وکړئ. ٣ تاسو د خپل
کار دپاره شپږ ورځې لرئ، مګر اوومه ورځ چې د سبت ورځ ده، د ارام کولو دپاره ده. په هغه ورځ
کار مه کوئ، مګر د عبادت دپاره راغونډ شئ. دا مهمه نه ده چې چیرته اوسېږئ، سبت د څښتن
ورځ ده. ٤ دغه اخترونه باید په ټاکل شویو وختونو کې اعلان کړئ.

## د فسحې او د فطیرې ډوډۍ اختر

(شمېر ٢٨: ١۶ – ٢۵)

٥ څښتن ته د احترام کولو دپاره د فسحې د اختر لمانځل هر کال د اولې میاشتې په څوارلسمه
ورځ د لمرپرېواته په وخت کې پیل کېږي. ۶ په پنځلسمه ورځ د فطیرې ډوډۍ اختر پیل کېږي
او اووه ورځې دوام کوي. تاسو باید په دې موده کې فطیره ډوډۍ وخورئ. ٧ د دغو ورځو څخه
په اوله ورځ د عبادت دپاره سره راغونډ شئ او خپل ورځنی کار هیڅ مه کوئ. ٨ اووه ورځې
هغه نذرانې وړاندې کړئ چې څښتن ته په اور باندې تیارېږي او په اوومه ورځ به بیا د عبادت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره سره راغونډ شئ، مګر هيڅ خپل ورځنی کار مه کوئ.>

## د اولني حاصل اختر

٩ ښنبتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ١٠ <د اسراييليانو سره خبرې وکړه او ورته ووايه: کله
چې تاسو هغې خاورې ته چې زه يې درکوم ورننوزئ او فصل يې وربېئ، نو کاهن ته اولنی ګېډۍ
ورکړئ. ١١ هغه دې دا ګېډۍ د ښنبتن په حضور کې پورته کړي، ترڅو هغه ستاسو په خاطر
قبوله شي. کاهن دې هغه د سبت له ورځې څخه وروسته په بله ورځ پورته کړي. ١٢ په هماغه
ورځ يوه سوزېدونکې نذرانه هم ښنبتن ته قرباني کړئ يعنې يو يو کلن وری چې هيڅ عيب په کې
نه وي. ١٣ له هغې سره به تاسو د دوو کيلوګرامو ښو اوړو د غلې دانې يوه نذرانه چې د زيتونو
تېل ورسره ګډ وي وړاندې کړئ. دا يوه داسې نذرانه ده چې په اور باندې ښنبتن ته تيارېږي او بوی
يې په هغه باندې ښه لګېږي. همدارنګه له هغې سره به تاسو د ښنبلو د نذرانې په توګه يو ليتر د
انګورو د شربت نذرانه هم وړاندې کړئ. ١۴ ترڅو پورې چې تاسو خدای ته دا نذرانه راوړې نه
وي نو نوې غلې دانې هيڅ مه خورئ. که هغه خامې وي، نينې شوې وي، يا ډوډۍ ورڅخه پخه
شوې وي هغه دې ونه خوړل شي. په دې قانون باندې دې د تل دپاره ستاسو د ټولو نسلونو له خوا
عمل وشي.

## د لو کولو اختر

(شمېر ٢٨: ٢۶ – ٣١)

١۵ د سبت د ورځې په سبا چې تاسو په کې ښنبتن ته د وړاندې کولو دپاره خپلې ګېډۍ راوړئ،
پوره اووه هفتې وشمېرئ. ١۶ په پنځوسمه ورځ، يعنې هغه ورځ چې د اووم سبت څخه وروسته
وي، د نوي حاصل څخه ښنبتن ته د غلې دانې بله نذرانه وړاندې کړئ. ١٧ هره کورنی دې دوه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ډوډۍ راوړي چې ماته د وقف کولو دپاره پورته ونيول شي. هره يوه دې د دوو کيلوګرامو ښو اوړو
څخه پخه شوې وي او خميره هم په کې وي. دا به څښتن ته د اولنيو رېبل شويو غلو دانو د نذرانې
په توګه وړاندې شي. ۱۸ قوم دې د ډوډۍ سره اووه يو کلن وري، يو غويې او دوه پسونه وړاندې
کړي، له دغو څخه دې په يو کې هم کوم عيب نه وي. دا به د غلې دانې او د څښلو د نذرانې سره
څښتن ته يوه سوزېدونکې نذرانه وي، يوه داسې نذرانه چې بوی يې په څښتن باندې ښه لګېږي.
۱۹ بيا د ګناه د نذرانې دپاره يو وز او د سلامتۍ د نذرانې دپاره دوه يو کلن وري قرباني کړئ.
۲۰ کاهن دې هغه ډوډۍ د دوه وريو سره څښتن ته د وقف کېدلو په خاطر پورته ونيسي. دا
څښتن ته يوه مقدسه نذرانه ده چې بايد کاهنانو ته ورکړل شي. ۲۱ تاسو بايد په هماغه ورځ د
عبادت دپاره سره راغونډ شئ او هيڅ ورځنی کار ونه کړئ. هرچېرته چې ستاسو اولاده اوسېږي دا
مقررات دې تل ترتله مراعت کړي.

۲۲ کله چې تاسو د خپلو ځمکو حاصلات لو کوئ، نو هغه د پټيو تر غاړو پورې مه لو کوئ او
هغه وږي چې د لو څخه پاتې شوي وي هغه مه راټولوئ. هغه غريبانو او بېګانه خلکو ته پرېږدئ.
زه ستاسو څښتن خدای يم.>

## د سرنيو اختر

(شمېر ۲۹: ۱ – ۶)

۲۳ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۲۴ <د اسراييلو قوم ته ووايه چې د هر کال د اوومې
مياشتې اوله ورځ د ارام کولو خاصه ورځ ده او د اسراييلو ټول خلک دې د سرنې د اواز په اورېدلو
سره د عبادت دپاره سره راغونډ شي. ۲۵ په هماغه ورځ خپل عادي کار مه کوئ، مګر څښتن ته
يوه داسې نذرانه وړاندې کړئ چې په اور باندې تيارېږي.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د کفارې ورځ

(شمېر ۲۹: ۷ – ۱۱)

۲۶ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۲۷ <هر کال د اوومې مياشتې لسمه ورځ د کفارې
ورځ ده. د عبادت دپاره سره راغونډ شئ او روژه ونيسئ. يوه داسې نذرانه وړاندې کړئ چې څښتن
ته په اور باندې تيارېږي. ۲۸ په هغه ورځ هيڅ کار مه کوئ، ځکه چې دا د کفارې ورځ ده چې
ستاسو دپاره ستاسو د څښتن خدای په حضور کې کفاره ادا کيږي. ۲۹ هرڅوک چې په هغه ورځ
روژه ونه نيسي بايد د خدای له قوم څخه وشړل شي. ۳۰ که چېرې څوک په هغه ورځ کوم کار
وکړي، زه به په خپله هغه ووژنم. ۳۱ دا قانون ستاسو په ټوله اولاده باندې هرچېرته چې اوسيږي
عملي کيږي. ۳۲ د مياشتې په نهمه ورځ د لمرپرېواته څخه نيولې د مياشتې د لسمې ورځې د
لمرپرېواته پورې دا ورځ د ارام کولو د يوې خاصې ورځې په توګه ولمانځئ او په دې دوران کې
بايد تاسو روژه ونيسئ.>

## د جونګړو اختر

(شمېر ۲۹: ۱۲ – ۴۰)

۳۳ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۳۴ <اسراييليانو ته ووايه چې د اوومې مياشتې په
پنځلسمه ورځ څښتن ته د احترام کولو دپاره د جونګړو اختر پيل کيږي. هغه اووه ورځې دوام کوي.
۳۵ په دغو ورځو کې اوله ورځ د عبادت دپاره سره راغونډ شئ او خپل ورځنی کار مه کوئ.
۳۶ اووه ورځې څښتن ته داسې نذرانې وړاندې کړئ چې په اور باندې تيارېږي او په اتمه ورځ
بيا د عبادت دپاره سره راغونډ شئ او د پخوا په شان نذرانه وړاندې کړئ. دا د عبادت ورځ ده او
تاسو به خپل عادي کار نه کوئ.

۳۷ دا هغه اخترونه دي چې د څښتن له خوا ټاکل شوي دي. هغه داسې ولمانځئ چې سره راغونډ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شئ او هغه ډول نذرانې چې په اور باندې څښتن ته تیارېږي یعنې سوزېدونکې نذرانې، د غلو
دانو نذرانې، قربانۍ ګانې او د څښلو نذرانې، دا هره یوه دې په خپله مناسبه ورځ هغه ته وړاندې
شي. ۳۸ دا اخترونه د سبت د ورځو څخه جدا دي او دا نذرانې د عادي سوغاتونو څخه جدا دي،
یعنې ستاسو د هغو نذرانو څخه چې د نذرونو دپاره دي او د هغو رضاکارانه نذرانو څخه چې څښتن
ته یې ورکوئ.

۳۹ نو کله چې تاسو خپل پټي ورېبل اووه ورځې دا اختر چې د اوومې میاشتې په پنځلسمه ورځ
پیل کېږي ولمانځئ. اوله ورځ به د ارام کولو ورځ وي او اتمه ورځ به هم د ارام کولو ورځ وي. ۴۰
په اوله ورځ تاسو د خپلو ونو څخه ډېره ښه مېوه، د خرما د ونې څانګې، پاڼې لرونکې څانګې او د
سیند د غاړو څخه ولې واخلئ او اووه ورځې د خپل څښتن خدای په حضور کې خوشالي وکړئ.
۴۱ دا هر کال اووه ورځې څښتن ته د احترام دپاره د یو اختر په توګه ولمانځئ. ستاسو راتلونکې
اولاده دې تل ترتله د دې قانون څخه پیروي وکړي. هغه په اوومه میاشت ولمانځئ. ۴۲ د
اسراییلو ټول خلک باید اووه ورځې په جونګړو کې واوسیږي، ۴۳ ترڅو ستاسو اولاده په دې پوه
شي کله چې ما د اسراییلو قوم له مصر څخه راوویست، هغوی مې دې ته مجبور کړل چې په ساده
جونګړو کې واوسیږي. زه ستاسو څښتن خدای یم.>

۴۴ نو په دې ډول حضرت موسیٰ د اسراییلو خلکو ته لاربنودنه وکړه چې د څښتن اخترونه
ولمانځي.

## د څراغونو ساتنه کول

(هجرت ۲۷: ۲۰ - ۲۱)

۲۴ ۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۲ <په اسراییلیانو باندې امر وکړه چې د هغو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څراغونو دپاره چې په مقدسه خېمه کې دي د زيتونو سوچه تېل راوړئ، ترڅو هغه په منظمه توګه
بل وساتل شي. ۳ هارون دې هر ماښام هغه بل کړي او هغه دې تر سهاره پورې د څښتن په
حضور کې د پردې څخه بيرون د لوظ د صندوق په مخ کې چې په ډېر مقدس ځای کې دی بل
وساتي. دا حکم دې د تل دپاره مراعت شي. ۴ هارون بايد په هغو څراغونو باندې پام وکړي
چې د سوچه سرو زرو په څراغدان باندې دي او وګوري چې هغه په منظمه توګه د څښتن په
حضور کې بل وي.

## هغه ډوډۍ چې خدای پاک ته وړاندې کېږي

۵ څلورويشت کيلوګرامه ښه اوړه واخله او دولس ډوډۍ ورڅخه پخې کړه. ۶ دا ډوډۍ په
دوه قطارونو کې چې په هر قطار کې شپږ ډوډۍ وي، په هغه مېز باندې کېږده چې په سوچه سرو
زرو پوښل شوی دی او د څښتن په حضور کې دی. ۷ په هر قطار باندې لږه سوچه خوشبويي
واچوه چې دا خوشبويي به څښتن خدای ته په اور باندې د تيارېدونکي نذرانې د يوې نښې په شان
وي چې د ډوډۍ په ځای وړاندې کېږي. ۸ دا ډوډۍ دې په هر سبت کې د څښتن په حضور کې
کېښودل شي. دا د همېش دپاره د اسراييلو وظيفه ده. ۹ دا ډوډۍ د هارون او د هغه د اولادې ده.
هغوی دې هغه په يو مقدس ځای کې وخوري، ځکه چې دا د هغو نذرانو يوه ډېره مقدسه برخه ده
چې څښتن ته په اور باندې تيارېږي.>

## د کفر ويلو او د قتل دپاره سزاګانې

۱۰-۱۱ داسې وشو چې يو سړی ؤ چې پلار يې مصری او مور يې اسراييلۍ وه چې شلوميت
نومېدله، هغه د دبري لور وه چې د دان د قبيلې څخه ؤ. دغه سړي په کمپ کې د يو اسراييلي سره
شخړه وکړه. د شخړې په وخت کې هغه څښتن ته ښکنځلې وکړې، نو هغوی دا سړی حضرت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

موسیٰ ته راوست. ۱۲ هغه يې تر څارنې لاندې وساته او څښتن ته يې انتظار کاوه چې دوی ته
ووايي چې د هغه سره څه وکړي.

۱۳ بيا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۱۴ <کفر ويونکی د کمپ څخه بيرون وباسه. هرچا
چې د هغه ښکنځلې چې څښتن ته يې کړې دي اورېدلې وي، خپل لاسونه دې د هغه په سر باندې
کېږدي او ټول قوم دې هغه سنګسار کړي. ۱۵ اسراييليانو ته ووايه: که چېرې څوک خدای ته
ښکنځلې وکړي، نو هغه به د خپلو بدو سزا ويني. ۱۶ هرڅوک چې د څښتن په نوم کفر ووايي
بايد ووژل شي. ټول قوم بايد هغه سنګسار کړي. که هغه يو بېګانه نفر وي يا اسراييلی وي، کله چې
هغه د خدای په نوم کفر ووايي بايد ووژل شي.

۱۷ هرڅوک چې قتل وکړي بايد ووژل شي ۱۸ او هرڅوک چې د بل چا حيوان ووژني بايد
تاوان يې ورکړي. قانون دا دی چې د ژوند په بدل کې ژوند واخيستل شي.

۱۹ که چېرې يو څوک يو بل نفر ټپي کړي، هرڅه چې هغه کړي وي هماغه شان عمل به ورسره
کيږي. ۲۰ که چېرې تاسو د چا يو هډوکی مات کړئ، ستاسو يو هډوکی به مات شي. که چېرې
تاسو د چا يوه سترګه وباسئ، ستاسو يوه سترګه به وويستل شي. که چېرې تاسو د چا يو غاښ مات
کړئ، ستاسو يو غاښ به مات شي. څنګه چې تاسو يو بل نفر ټپي کړئ، ستاسو سره به په بدل کې
هماغه شان کار کيږي. ۲۱ هرڅوک چې يو حيوان ووژني تاوان به يې ورکوي، مګر څوک چې يو
انسان ووژني، هغه به ووژل شي. ۲۲ دا قانون په تاسو ټولو باندې عملي کيږي، يعني په اسراييليانو
او په هغو بېګانه خلکو باندې چې ستاسو په منځ کې اوسيږي، ځکه چې زه ستاسو څښتن خدای
يم.>

۲۳ کله چې حضرت موسیٰ د اسراييلو قوم ته دا خبرې وکړې، هغوی دا سړی له کمپ څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دباندې وویست او سنګسار یې کړ. په دې ډول د اسراییلو قوم هغه څه وکړل چې څښتن یې په
حضرت موسیٰ باندې امر کړی ؤ.

## اووم کال

(تثنیه ۱۵: ۱ – ۱۱)

**۲۵** ۱ د سینا په غره باندې څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۲ <د اسراییلیانو سره
خبرې وکړه او ورته ووایه: کله چې تاسو هغې خاورې ته چې زه یې درکوم ورننوزئ، باید څښتن
ته د احترام په خاطر هر اووم کال د ځمکې د کرلو څخه ډډه وکړئ. ۳ شپږ کاله خپل پټي وکرئ
او شپږ کاله د خپلو انګورو د تاکونو څانګې اصلاح کړئ او حاصلات یې راټول کړئ. ۴ مګر په
اووم کال دې ځمکه بېخي خاره پاتې شي، دا به څښتن ته وقف شوی کال وي. په دې کال کې خپل
پټي مه کرئ او د خپلو انګورو د تاکونو څانګې مه اصلاح کوئ. ۵ هغه غلې دانې مه رېبئ چې
بې له کرلو په خپله راشنې کېږي او د خپلو هغو تاکونو څخه انګور مه راټولوئ چې څانګې یې
اصلاح شوې نه وي. دا یو کال دی چې ځمکه په کې بېخي خاره پاتې کېږي. ۶-۷ خو بیاهم
تاسو، ستاسو غلامان، ستاسو مزدوران او هغه بېګانه خلک چې ستاسو په منځ کې اوسېږي او
همدارنګه ستاسو اهلي او وحشي حیوانات کولی شي هغه څه چې په خپله راشنه کېږي وخوري.

## د بېرته ورکولو کال

۸ اووه ځلې اووه کاله وشمېرئ، چې ټول نهه څلوېښت کاله کېږي. ۹ بیا د اوومې میاشتې په
لسمه ورځ چې د کفارې ورځ ده په ټول وطن کې سرنې ووهئ. ۱۰ په دې ډول به تاسو پنځوسم
کال خاص کال وګڼئ او د وطن ټولو اوسېدونکو ته به ازادي اعلان کړئ. د دې کال په دوران کې به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ټول جایداد چې خرڅ شوی وي خپل اصلي خاوند یا د هغه اولادې ته بېرته ورکړل شي او
هرڅوک چې د غلام په توګه خرڅ شوی وي خپلې کورنۍ ته به ورستون شي. ١١ پنځوسم کال
به ستاسو دپاره د بېرته ورکولو کال وي. تاسو خپلې ځمکې ونه کرئ او هغه غلې دانې ونه رېبئ
چې په خپله راشنې کیږي او د خپلو هغو تاکونو څخه انګور مه راټولوئ چې څانګې یې اصلاح
شوې نه وي. ١٢ د بېرته ورکولو ټول کال به ستاسو دپاره پاک وي، تاسو به یوازې هغه څه
خورئ چې په پټي کې په خپل سر راشنه کیږي.

١٣ په دې کال کې به ټول جایداد چې خرڅ شوی وي خپل اصلي خاوند ته بېرته ورکړل شي.
١٤ که چېرې تاسو په خپل یو هېوادوال باندې ځمکه خرڅه کړئ یا یې ورڅخه واخلئ، د یو بل
څخه ګټه مه اخلئ. ١٥ د ځمکې بیه دې د هغو کلونو د شمېر له مخې حساب شي چې د بېرته
ورکولو د بل کاله پورې په کې دا ځمکه حاصل ورکولی شي. ١٦ که چېرې کلونه ډېر وي نو بیه
به یې لوړه وي، مګر که چېرې کلونه کم وي، بیه به یې ټیټه وي ځکه چې څه چې خرڅیږي هغه به
د فصلونو د شمېر په مطابق وي. ١٧ د یو بل څخه ګټه مه اخلئ مګر زما څخه وویرېږئ، ځکه
چې زه ستاسو څښتن خدای یم.

## په اووم کال به خدای پاک خوراک تیاروي

١٨ د څښتن د ټولو فرمانونو او قوانینو څخه پیروي وکړئ، ترڅو به دې خاوره کې په امن سره
واوسېږئ. ١٩ ځمکه به خپل حاصلات ورکړي او تاسو چې هرڅه غواړئ د خوړلو دپاره به یې
ولرئ او په امن کې به واوسېږئ.

٢٠ مګر کېدای شي چې تاسو پوښتنه وکړئ: که چېرې مونږ څه شی ونه کرو او حاصل راټول نه
کړو، نو په اووم کال به څه شی وخورو؟ ٢١ زه به په شپږم کال تاسو ته داسې برکت درکړم چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځمکه به د دريو کلونو دپاره پوره حاصل ورکړي. ۲۲ کله چې تاسو د اتم کال په دوران کې
خپلې ځمکې وکرئ، د هغو حاصلاتو څخه به خواړه خورئ چې د شپږم کال په دوران کې راټول
شوي وو او په نهم کال کې به هغه خواړه وخورئ کوم چې تاسو په اتم کال کې کرلي دي.

## د جايداد بېرته ورکول

۲۳ تاسو بايد خپله ځمکه په دايمي توګه خرڅه نه کړئ، ځکه چې دا ستاسو نه ده. هغه ځمکه
زما ده او تاسو په کې د هغو بېګانو خلکو په شان يئ چې کولی شي د هغې څخه يوازې ګټه واخلي.

۲۴ کله چې ځمکه خرڅيږي، د هغې اصلي خاوند حق لري چې هغه بېرته په بيه واخلي. ۲۵
که چېرې له تاسو اسراييليانو څخه يو نفر غريب شي او مجبور شي چې د خپلې ځمکې څخه يو
څه ځمکه خرڅه کړي، د هغه ډېر نژدې خپلوان بايد هغه بېرته واخلي. ۲۶ که چېرې يو نفر يو
خپلوان هم ونلري چې هغه بېرته واخلي، کېدای شي چې هغه وروسته شتمن شي او پوره پيسې
ولري چې هغه بېرته واخلي. ۲۷ په دې صورت کې هغه بايد د حاصلاتو بيه د هغو کلونو دپاره
معلومه کړي چې د بېرته ورکولو تر راتلونکي کاله پورې پاتې وي او د هغو پيسې دې هغه نفر ته
ورکړي په چا باندې چې هغه خرڅه شوې وي. بيا هغه کولی شي چې بېرته خپله ځمکه واخلي.
۲۸ مګر که چېرې اصلي خاوند نه شي کولی چې هغه ځمکه بېرته په بيه واخلي، نو هغه به د
بېرته ورکولو د راتلونکي کال پورې د نوي خاوند وي. د بېرته ورکولو په کال به هغه بېرته خپل
اصلي خاوند ته ورکړل شي.

۲۹ که چېرې يو نفر په دېوال لرونکي ښار کې يو کور خرڅ کړي، دا حق لري چې د اول کال په
ټول دوران کې د خرڅېدلو د نېټې څخه را په دې خوا هغه بېرته واخلي. ۳۰ مګر که چېرې هغه
په دې کال کې بېرته وانخلي، د هغه د بېرته اخيستلو حق له لاسه ورکوي او هغه کور د اخيستونکي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغه د اولادې دايمي ملکيت کيږي. هغه به د بېرته ورکولو په کال کې بېرته ورنه کړای شي.
٣١ مګر کوم کورونه چې په بې دېواله کليو کې دي په هغو باندې دې د پټيو په شان کار وشي.
اصلي خاوند حق لري چې هغه بېرته واخلي او هغه دې د بېرته ورکولو په کال کې بېرته ورکړای
شي. ٣٢ لاويان دا حق لري چې خپل جايداد په هغو ښارونو کې چې هغوی ته ورکړل شوي دي
په هر وخت کې بېرته په بيه واخلي. ٣٣ که چېرې يو لاوي د دغو ښارونو څخه په يو ښار کې يو
کور خرڅ کړي او بېرته يې وانخلي، هغه بايد د بېرته ورکولو په کال کې بېرته ورکړای شي، ځکه
چې د اسراييلو د قوم په منځ کې چې لاويان په خپلو ښارونو کې کوم کورونه لري، هغه د هغوی
دايمي ملکيت دی. ٣۴ مګر هغه څړځايونه چې د لاويانو د ښارونو په شاوخوا کې دي هغه به
هيڅکله خرڅ نه شي. دا د تل دپاره د هغوی ملکيت دی.

## غريبانو ته قرضونه ورکول

٣۵ که چېرې يو اسراييلی چې ستاسو سره نژدې اوسيږي غريب شي او خپل ځان ونه شي
ساتلی، تاسو بايد د هغه سره داسې مرسته وکړئ لکه څنګه يې چې د يو بېګانه يا موقتي
اوسېدونکي سره کوئ، ترڅو هغه وکولی شي چې ستاسو په خوا کې واوسيږي. ٣۶ د يو اسراييلي
څخه هيڅ سود مه اخلئ، مګر د خپل خدای څخه ووېرېږئ، ترڅو ستاسو هېوادوال وکولی شي چې
ستاسو په خوا کې واوسيږي. ٣٧ په هغو پيسو باندې چې تاسو يې ورته په قرض ورکوئ د هغوی
څخه سود مه اخلئ او په هغو خواړو باندې چې تاسو يې ورباندې خرڅوئ، ګټه مه اخلئ. ٣٨ زه
ستاسو څښتن خدای يم چې تاسو مې له مصر څخه راوويستلئ د دې په خاطر چې د کنعان ځمکه
درکړم او ستاسو خدای اوسم.

## د غلامانو ازادول

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۹ که چېرې يو اسراييلی چې ستاسو سره نژدې اوسېږي دومره غريب شي چې خپل ځان په
تاسو باندې د غلام په توګه خرڅ کړي، تاسو به په هغه باندې د غلامانو کار نه کوئ. ۴۰ د هغه
سره دې د مزدور يا هغه موقتي اوسېدونکي په شان رويه وشي کوم چې ستاسو په منځ کې اوسېږي.
هغه اسراييلی دې د ښېرته ورکولو تر بل کاله پورې ستاسو خدمت وکړي. ۴۱ په هغه وخت کې به
هغه او د هغه اولادونه ستاسو څخه لاړ شي او خپلې کورنۍ او د خپلو نيکونو ملکيت ته به ورستانه
شي. ۴۲ اسراييليان زما غلامان دي چې ما له مصر څخه راوويستل. په دې خاطر بايد هغوی د
غلامانو په توګه خرڅ نه شي. ۴۳ د خپل خدای څخه ووېرېږئ او د هغوی سره سخته رويه مه
کوئ. ۴۴ که چېرې تاسو غلامانو ته ضرورت لرئ، کولی شئ چې د خپل شاوخوا قومونو څخه
يې په بيه واخلئ. ۴۵ همدارنګه تاسو کولی شئ چې ځينې بېګانه خلک چې ستاسو په منځ کې
اوسېږي او د هغوی اولادونه چې ستاسو په خاوره کې پيدا شوي دي هم په بيه واخلئ. هغوی به
ستاسو ملکيت شي. ۴۶ وروسته تاسو هغوی خپلو اولادونو ته د ميراث په توګه پرېښودلی شئ او
د ټول عمر دپاره ورڅخه غلامان جوړولی شئ. مګر د خپلو اسراييليانو سره بايد سخته رويه ونه
کړئ.

۴۷ فرض کړئ يو بېګانه يا يو داسې موقتي اوسېدونکی چې ستاسو په منځ کې اوسېږي شتمن
شي، مګر کوم اسراييلی غريب شي او خپل ځان په هغه بېګانه نفر يا د هغه نفر د کورنۍ په غړي
باندې د غلام په توګه خرڅ کړي. ۴۸ هغه د خرڅېدلو څخه وروسته بياهم حق لري چې بېرته په
بيه واخيستل شي. يو ورور، ۴۹ يا يو تره يا يو د تره زوی يا يو بل نژدې خپلوان يې بېرته
اخيستلی شي. که چېرې هغه په خپله پوره پيسې لاس ته راوړي، خپله ازادي په خپله اخيستلی
شي. ۵۰ هغه بايد د هغه چا سره چې دی يې اخيستی دی مشوره وکړي او د هغه وخت څخه چې
خپل ځان يې خرڅ کړی ؤ د بېرته ورکولو د بل کاله پورې کلونه دې وشمېري او د هغه د ازادېدو
بيه دې د پاتې کلونو د هغه نرخ په اساس وي چې يو مزدور ته د هغو کلونو د شمېر په حساب

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکول کېږي. ٥١-٥٢ که چېرې د بېرته ورکولو تر کاله پورې زياته موده پاتې وي هغه به د
خپلې ازادۍ دپاره زياتې پيسې ورکوي او که چېرې لږه موده پاتې وي نو لږې پيسې به ورکوي
٥٣ د هغه سره دې د داسې مزدورانو په شان رويه وشي چې د کال په حساب اجيران نيول کېږي.
تاسو بايد وګورئ چې د هغه خاوند د هغه سره سخته رويه ونه کړي. ٥٤ حتیٰ که چېرې هغه په
دغو طريقو ازاد نه شي، د بېرته ورکولو په راتلونکي کال بايد هغه او د هغه اولادونه ازاد شي. ٥٥
دا ځکه چې اسراييليان زما غلامان دي چې ما له مصر څخه راوويستل. زه د هغوی څښتن خدای
يم.>

## د اطاعت کولو دپاره برکتونه

(تثنيه ٧: ١٢ – ٢٤، ٢٨: ١ – ١٤)

۲۶ ١ څښتن وفرمايل: <د خپلو ځانونو دپاره بتان يا مجسمې يا د تيږو ستنې مه جوړوئ
چې د هغو عبادت وکړئ. زه ستاسو څښتن خدای يم. ٢ د سبت د ورځې څخه پيروي وکړئ او
د هغه ځای احترام وکړئ چې زما عبادت په کې کېږي. زه څښتن يم.

٣ که چېرې تاسو زما د فرمانونو څخه پيروي وکړئ او زما امرونو ته غاړه کېږدئ، ٤ زه به
په صحيح وخت په تاسو باندې باران واوروم، ترڅو ځمکه حاصلات ورکړي او ونې مېوې ونيسي.
٥ ستاسو فصلونه به دومره پرېمانه شي چې ستاسو د غلو دانو غوبل به تر هغه پورې دوام وکړي
ترڅو د انګورو د راټولولو وخت راشي او ستاسو د انګورو د حاصل راټولول به تر هغه وخته پورې
دوام وکړي ترڅو د غلو دانو د کرلو وخت راورسيږي. هرڅه چې تاسو يې غواړئ هغه به وخورئ
او په خپله خاوره کې به په امن سره واوسېږئ.

٦ زه به ستاسو خاورې ته ارامي راولم او تاسو به بې د چا له وېرې خوب کولی شئ. زه به د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغې خاورې څخه خطرناک حیوانات لېرې کړم او هلته به نور جنګ نه وي. ۷ تاسو به په خپلو
دښمنانو باندې بریالي شئ او په جګړه کې به یې ووژنئ. ۸ ستاسو پنځه تنه به وکولی شي چې
سلو تنو ته ماتې ورکړي او ستاسو سل تنه به وکولی شي چې لسو زرو تنو ته ماتې ورکړي. ۹
زه به تاسو ته برکت درکړم او ډېر اولادونه به درکړم او په هغه لوظ باندې به ودرېږم چې تاسو سره
مې کړی دی. ۱۰ ستاسو حاصلات به دومره پرېمانه شي چې هغه به تر کاله پورې ورسېږي او
حتیٰ څه چې د زاړه حاصل څخه پاتې دي هغه به لېرې وغورزوئ ترڅو د نوي حاصل دپاره ځای
پیدا شي. ۱۱ زه به راشم او ستاسو په منځ کې به اوسېږم او هیڅکله به ستاسو څخه کرکه ونه کړم.
۱۲ زه به ستاسو سره مل یم او ستاسو خدای به یم او تاسو به زما قوم یئ. ۱۳ زه ستاسو
څښتن خدای یم چې تاسو مې له مصر څخه راوویستلئ ترڅو نور د مصریانو غلامان نه اوسئ. ما
ستاسو د غلامۍ جغونه مات کړل او تاسو ته مې د دې توان درکړ چې په سرلوړۍ سره واوسېږئ.>

## د سرغړونې سزا

(تثنیه ۲۸: ۱۵ – ۶۸)

۱۴ څښتن وفرمایل: <مګر که چېرې زما امرونو ته غاړه کېنږدئ نو تاسو ته به سزا درکړل شي.
۱۵ که چېرې تاسو زما د قوانینو او حکمونو د منلو څخه انکار وکړئ او هغه لوظ مات کړئ چې
ستاسو سره مې کړی دی، ۱۶ نو زه به تاسو ته داسې سزا درکړم: په تاسو باندې به آفت نازل
کړم، داسې ناروغۍ چې د علاج وړ نه وي او تبې چې تاسو به ړانده کړي او ستاسو ژوند به خراب
کړي. تاسو به خپل فصلونه وکرئ، مګر هیڅ ګټه به درته ونه رسوي ځکه چې څه چې تاسو کرئ
ستاسو دښمنان به یې وخوري. ۱۷ زه به ستاسو په ضد شم، ترڅو ستاسو دښمنان تاسو ته ماتې
درکړي او هغوی چې ستاسو څخه کرکه کوي په تاسو باندې به حکومت کوي. تاسو به دومره
وېرېږئ چې بې له دې چې څوک مو تعقیب کړي تاسو به تښتئ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ که چېرې د دغو ټولو شیانو څخه وروسته بیاهم ماته غوږ ونه نیسئ، زه به تاسو ته ستاسو د
ګناهونو په خاطر اووه چنده زیاته سزا درکړم. ۱۹ زه به ستاسو سخت غرور مات کړم. هیڅ باران
به نه وي او ستاسو ځمکه به وچه شي او د اوسپنې په شان به کلکه شي. ۲۰ ستاسو ټول زیار به
تاسو ته هیڅ ګټه ونه رسوي، ځکه چې ستاسو ځمکه به فصلونه نه کوي او ونې به مېوه ونه نیسي.

۲۱ که چېرې تاسو زما په خلاف اوسئ او ماته غوږ ونه نیسئ، زه به بیا ستاسو سزا اووه چنده
زیاته کړم. ۲۲ زه به ستاسو منځ ته خطرناک حیوانات درولېږم او هغوی به ستاسو اولادونه
ووژني، ستاسو حیوانات به له منځه یوسي او ستاسو شمېر به دومره کم کړي چې لارې به مو
خوشې پاتې شي.

۲۳ که چېرې د دغو ټولو سزاګانو سره سره زما خبرو ته غوږ ونه نیسئ او زما په خلاف پاتې
شئ، ۲۴ زه به په خپله ستاسو په خلاف شم او تاسو ته به له مخکې څخه اووه چنده سخته سزا
درکړم. ۲۵ زه به په تاسو باندې جنګ راولم د دې په خاطر چې تاسو ته د خپل لوظ د ماتولو
دپاره سزا درکړم او که چېرې تاسو د خوندي پاتې کېدلو دپاره په خپلو ښارونو کې راغونډ شئ، زه
به په تاسو باندې ناعلاجه ناروغی نازلې کړم او تاسو به مجبور شئ چې خپلو دښمنانو ته تسلیم
شئ. ۲۶ زه به په تاسو باندې خواړه بند کړم چې لس ښځې به یو تنور ډوډۍ پخوي. ستاسو
جیره به دومره کمه کړم چې کله تاسو هغه ټوله وخورئ، بیا به هم ماړه نه شئ.

۲۷ که چېرې له دې سره سره بیاهم تاسو ماته غوږ ونه نیسئ او زما په خلاف پاتې شئ، ۲۸ بیا
به زه په تاسو باندې خپل غضب نازل کړم او ستاسو سزا به له پخوا څخه اووه چنده زیاته کړم. ۲۹
ستاسو لوږه به دومره زیاته شي چې خپل اولادونه به وخورئ. ۳۰ زه به ستاسو هغه عبادتخانې له
منځه یوسم چې په غونډیو باندې دي. ستاسو د خوشبویۍ قربانګاوې به له منځه یوسم او ستاسو
مړي به ستاسو په بې ساه بتانو باندې وغورزوم. زه به ستاسو څخه کرکه وکړم. ۳۱ ستاسو ښارونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به په کنډوالو بدل کړم، ستاسو عبادتخاني به له منځه یوسم او ستاسو قرباني ګاني به قبولې نه کړم.
۳۲ زه به ستاسو خاوره بېخي له منځه یوسم چې دښمنان مو هغه ونیسي، نو دې ورانۍ ته به هک
حیران پاتې شي. ۳۳ زه به په تاسو باندې جنګ راولم او تاسو به په پردیو هېوادونو کې خپاره
کړم. ستاسو ځمکه به خوشې پاتې شي او ښارونه به مو په کنډوالو بدل شي. ۳۴-۳۵ بیا به
ځمکه د خاره پاتې کېدلو د کلونو ثخه چې تاسو پرېښې نه وه ګټه واخلي. نو ترڅو پورې چې
تاسو د خپلو دښمنانو په خاوره کې په جلاوطنۍ کې اوسېږئ هغه به خوشې او خاره پاتې شي.

۳۶ ستاسو هغه خلک چې په جلاوطنۍ کې دي، د هغوی په زړونو کې به داسې وېره واچوم چې
د هغې پاڼې له اواز ثخه به هم تښتي چې باد یې رېوي. هغوی به داسې منډې وهي لکه ثوک چې
یې په جګړه کې تعقیبوي. د هغوی په ثنګ کې به هیڅ دښمن نه وي مګر هغوی به غورزېږي. ۳۷
هیڅ ثوک به هغوی نه تعقیبوي خو هغوی به د یو بل دپاسه غورزېږي او دا توان به نه لري چې د
خپلو دښمنانو په مقابل کې ودرېږي. ۳۸ هغوی به په پردي وطن کې مړه شي او د خپلو دښمنانو
خاوره به یې ژوندي تېر کړي. ۳۹ د هغوی ثخه چې ثوک د خپلو دښمنانو په خاوره کې ژوندي
پاتې شي، د هغوی ژوند به ستاسو او ستاسو د نیکونو د ګناه له کبله برباد شي.

## د راتلونکي دپاره هیله

۴۰ مګر ستاسو اولاده به د خپلو ګناهونو او خپلو نیکونو د ګناهونو اقرار کوي چې زما سره یې
بې وفايي او دښمني وکړه ۴۱ او زه یې د خپل ځان په ضد کړم ترڅو هغوی د خپلو دښمنانو
خاورې ته وشړم. په آخر کې کله چې ستاسو د اولادې سخت زړونه نرم شي او د خپلې ګناه دپاره
سزا وموMي، ۴۲ زه به د یعقوب، اسحاق او ابراهیم سره خپل لوظ او خپل قوم ته د ځمکې د
ورکولو وعده رایاده کړم. ۴۳ اول باید د دې وطن خلک دا ځمکه پرېږدي ترڅو د خاره پاتې
کېدلو ثخه ګټه واخلي او هغوی باید زما د قوانینو او فرمانونو د ردولو په سبب د خپلو ګناهونو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پوره بیه ادا کړي. ۴۴ بیاهم، کله چې هغوی د خپلو دښمنانو په خاوره کې وي، زه به یې ببخي له
منځه نه وړم. هغوی به نه پرېږدم او خپل لوظ به ورسره مات نه کړم، ځکه چې زه د هغوی ښتن
خدای یم. ۴۵ مګر زه به د هغوی په خاطر هغه لوظ رایاد کړم چې د هغوی د نیکونو سره مې
هغه وخت کړی ؤ چې هغوی مې له مصر څخه راوویستل د دې دپاره چې زه به د هغوی خدای
اوسم او په دې ډول مې نورو قومونو ته خپل قدرت وروښود.>

۴۶ دا هغه فرمانونه، قوانین او مقررات دي چې ښتن د سینا په غره باندې د اسراییلیانو دپاره
حضرت موسیٰ ته ورکړل.

## ښتن ته د سوغاتونو په هکله قوانین

**۲۷** ۱ ښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۲ <د اسراییلیانو سره خبرې وکړه او ورته
ووایه چې که چېرې څوک یو بل نفر د خاص نذر په توګه ښتن ته وقف کړي، نو هغه نفر به د
لاندینیو پیسو په ورکولو سره ازاد شي: ۳-۷ د مقدس ځای د مثقال په مطابق:

- بالغ نارینه چې عمر یې د شلو کالو څخه تر شپېتو کالو پورې وي: ۵۰ مثقاله سپین زر.
- بالغه ښځه: ۳۰ مثقاله سپین زر.
- ځوان نارینه چې عمر یې د پنځو څخه تر شلو کالو پورې وي: ۲۰ مثقاله سپین زر.
- ځوانه ښځینه: ۱۰ مثقاله سپین زر.
- ماشوم چې عمر یې د یوې میاشتې څخه تر پنځو کالو پورې وي: ۵ مثقاله سپین زر.
- ماشومه: ۳ مثقاله سپین زر.
- هغه نارینه چې عمر یې د شپېتو کالو څخه زیات وي: ۱۵ مثقاله سپین زر.
- هغه ښځه چې عمر یې د شپېتو کالو څخه زیات وي: ۱۰ مثقاله سپین زر.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ که چېرې یو نفر چې نذر ورکوي ډېر غریب وي او نه شي کولی چې دا ټاکل شوې اندازه ادا
کړي، هغه دې دا نفر کاهن ته وړاندې کړي او کاهن به نذر ورکوونکي ته د هغه د توان سره سمه بیه
وټاکي.

۹ که چېرې د هغه نذر یو داسې حیوان وي چې څښتن ته د نذرانې په توګه د منلو وړ وي، نو
داسې سوغات چې څښتن ته ورکول کېږي هغه مقدس دی. ۱۰ که هغه حیوان ښه وي یا خراب،
هغه نه شي کولی چې د بل حیوان سره یې بدل کړي. که چېرې داسې وکړي نو دواړه حیوانات د
څښتن کېږي. ۱۱ که چېرې د هغه نذر یو ناپاک حیوان وي، دا چې هغه څښتن ته د نذرانې په
توګه د منلو وړ نه دی نو هغه حیوان باید کاهن ته راوستل شي. ۱۲ کاهن دې د هغه د ښه والي یا
بدوالي له مخې بیه وټاکي او دا به اخرنۍ بیه وي. ۱۳ که چېرې خاوند یې وغواړي چې هغه
حیوان بېرته واخلي، باید د هغې د بیې شخه شل فیصده زیات ورکړي.

۱۴ که چېرې یو نفر خپل کور څښتن ته وقف کوي، کاهن به ورته د هغه د ښه والي یا بدوالي له
مخې بیه وټاکي او هغه به اخرنۍ بیه وي. ۱۵ که چېرې هغه نفر چې خپل کور یې وقف کړی دی
وغواړي چې هغه بېرته واخلي، باید شل فیصده اضافه بیه ادا کړي او کور به بیا د هغه شي.

۱۶ که چېرې یو نفر څښتن ته د خپلې کورنۍ د ځمکې کومه برخه وقف کوي، د هغې بیه دې د
هغه تخم د اندازې له مخې وټاکل شي چې په هغه ځمکه کې کرل کېږي، یعنې د دوه سوه کیلوګرامو
اوربشو تخم دپاره پنځوس مثقاله سپین زر. ۱۷ که چېرې هغه دا ځمکه د بېرته ورکولو د کال
څخه وروسته سمدلاسه وقف کړي نو ټوله بیه دې ادا کړي. ۱۸ مګر که چېرې هغه نفر خپله
ځمکه له دې څخه وروسته وقف کړي، کاهن به د هغې بیه د هغو کلونو د شمېر له مخې حساب
کړي چې د بېرته ورکولو تر راتلونکي کال پورې پاتې وي او کمه بیه به وټاکي. ۱۹ که چېرې هغه
نفر چې ځمکه یې وقف کړې ده وغواړي چې هغه بېرته واخلي، باید د اضافه شلو فیصدو سره بیه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ادا کړي او ځمکه به بېرته د هغه شي. ۲۰ که چېرې هغه ځمکه په بل چا باندې خرڅوي، نو هغه دې اول بېرته په بیه واخلي، له دې پرته د بېرته اخیستلو حق د تل دپاره له لاسه ورکوي. ۲۱ د بېرته ورکولو په راتلونکي کال کې به دا ځمکه مقدسه شي او د څښتن دایمي ملکیت کېږي. هغه به د کاهنانو شي.

۲۲ که چېرې یو نفر څښتن ته داسې یو پټی وقف کړي چې اخیستی یې وي او د هغه د کورنۍ د ځمکې برخه نه وي، ۲۳ کاهن به د هغه بیه د هغو کلونو د شمېر له مخې حساب کړي چې د بېرته ورکولو تر راتلونکي کال پورې پاتې وي او هغه نفر باید په هماغه ورځ بیه ادا کړي. پیسې د څښتن کېږي. ۲۴ دا پټی به د بېرته ورکولو په کال کې د هغه اصلي خاوند یا د هغه اولادې ته بېرته ورکړای شي.

۲۵ ټولې بیې باید د مقدس ځای د اندازې له مخې وټاکل شي.

۲۶ اولنی زېږېدلی حیوان له پخوا څخه د څښتن دی، نو هیڅوک نه شي کولی چې هغه څښتن ته وقف کړي. که هغه یو خوسی وي، یو وری یا سېرلی وي، که هغه نر وي یا ښځه، هغه د څښتن دی.
۲۷ که چېرې هغه یو ناپاک حیوان وي، کېدای شي چې په اصلي بیه د اضافه شلو فیصدو سره بېرته واخیستل شي. که چېرې هغه بېرته وانه خیستل شي، کېدای شي چې په بل چا باندې په اصلي بیه خرڅ شي.

۲۸ هیڅوک نه شي کولی چې داسې څه خرڅ کړي یا یې بېرته واخلي چې پرته له کوم شرط څخه یې څښتن ته وقف کړی وي، که هغه یو انسان وي، یو حیوان، یا د کورنۍ ځمکه وي. هغه په دایمي توګه د څښتن دي. ۲۹ حتیٰ که یو انسان بې له کوم شرط څخه وقف کړای شوی وي هغه بېرته په بیه نه شي اخیستل کېدای، هغه باید ووژل شي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۰ د ځمکې د ټولو حاصلاتو لسمه برخه که هغه غلې دانې وي یا مېوه، هغه د څښتن ده. ۳۱
که چېرې یو نفر وغواړي چې له هغې څخه لږ بېرته واخلي، هغه باید د اضافه شلو فیصدو سره
اصلي بیه ادا کړي. ۳۲ کله چې څوک خپلې پادې او رمې شمېري د هغو څخه هر لسم حیوان د
څښتن دی. ۳۳ هغه نفر نه شي کولی چې خپل حیوانات داسې ترتیب کړي چې خراب حیوانات
ورڅخه انتخاب کړي او نه شي کولی چې هغه بدل کړي. که چېرې هغه یو حیوان د بل سره بدل
کړي، بیا دواړه حیوانات د څښتن کېږي او بېرته په بیه نه شي اخیستل کېدای.>

۳۴ دا هغه امرونه دي چې څښتن حضرت موسیٰ ته د سینا په غره باندې د اسراییلیانو دپاره
ورکړل.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © د ختیځ افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.